## مأجور

هغه شی دی چې په اجاره ورکړل شوی وي. دری:[مأجور]

## مادي اجبار

هغه فشار چې له انسان ځنې د عمل توان سلب او هغه د بل د قواوو مقهور ګرځوي. دری: [اجبار مادی]

## مادي ادله

هغه دليلونه دي چې د مادي آثارو په توګه د حادثې په ځای کې د فعل له مرتکب څخه پاتي کېږي. دری: [ادلهٔ مادی]

## مادي اکراه

هغه اکراه ده چې پکښې فشار عملاً او مادتاً شتوالی ولري او د انسان، ځان، مال او شتمنی ته متوجه وي

(اکراه ته دې مراجعه وشي). دری:[اکراه مادی]

## مادي تزوير

هغه تزوير چې مزور مادي تغيير په سند کې راوړي او درک کېدای شي. دری: [تزویر مادی]

## مادي جرم

هغه جرم دی چې تحقق يې د جرمي پايلې په ترلاسه کولو پورې تړلې وي. دری:[جرم مادی]

## مادي جعل

د سندونو، مهر او لاسليک جوړول دي چې د حقيقت پر خلاف وي. دری: [جعل مادی]

## مادي زيان

هغه تاوان دی چې په پيسو باندې د سنجش وړ وي. دری:[ضرر مادی]

## مادي ضرر

هغه ضرر دی چې انسان هغه په خپل مايملک کې ګوري او مالي خصوصيت لري. دری: [ضرر مادی]

## مادي فعل

په ښکاره ډول د عمل له سرته رسولو څخه عبارت دی چې د جرم له مادي نتيجو څخه منتج ګرځي.

(فعل ته دې مراجعه وشي). دری:[فعل مادی]

## ماذون

هغه شخص چې د اهليت د نقص سره مواجه وی او د هغه چا له خوا چې د ولايت لاندې يې وي د هغې د قانوني او شرعي معاملاتو او تصرفاتو د سرته رسولو لپاره اجازه ورکړل شوي وي. دری: [ماذون]

## مارة

د عامه لارې لارويو ته ويل کېږي. دری:[ مارة]

## ماستر پلان

د ښار عمومي طرحې دي چې د اقتصادي او پراختيايي موخو او د نفوسو د ډېرېدلو د صنعتي ساحاتو، استوګنې او خدماتي، د انجنيری شبکو د ښار د حمل او نقل سيستم (ترانسپورت) او د اشخاصو (حقيقي او يا حکمي) د وجايبو د ټاکلو په موخه د قانون له حکمونو سره سم په نظر کې نيول شوی وي. دری:[ماستر پلان]

## ماضی ابرأ

هغه ابرأ چې له تېرو يا ماضی حقوقو او ديونو سره تړاو ولري. دری: [ابراء گذشته]

## مال

هر هغه څه چې د کار اخيستنې، ذخيره کولو او معاملاتي ارزښت وړ وي، مال دی. دری:[مال]

## مالکانه تصرف
هغه عمل دی چې پر یو عین باندې د ملکیت دحق د تبارز لپاره او یا د هغه تغییر د حقیقي څښتن له خوا صورت نیسی. دری: [تصرف مالکانه]

## مالي استازی
هغه شخص دی چې د یوې حکمې یا حقیقي شخص مالي چارې په غاړه لري. دری: [نمایندهٔ مالی]

## مالي بازار
هغه پولي بازار دی چې پکې د بها لرونکو سندونو راکړه ورکړه او په دغسي بازار پورې نور اړوند فعالیتونه ترسره کیږي. دری:[بازار مالی]

## مالي پلان
هغه سند دی چې په هغه کې د حکمي اشخاصو (وزارتونو او ادارو) د عوایدو مجموع او بودجوي متقابله اړیکې د یوې ټاکلې شوې مودې په ترڅ کې انعکاس مومي. دری:[پلان مالی]

## مالي تدبیرونه
هغه تدبیرونه چې له مخی ئې د اشخاصو له خوا د مالونو، او غیر قانوني شیانو د وړاندې کولو او ساتنې په موخه د یو سرغړوونکی حکمي شخصیت د فعالیت دایمي یا مؤقتي تعطیل، د محکمې له حکم سره سم صورت مومي. دری: [تدابیر مالی]

## مالي جریمه
د شخص الزامول دي د یوه معین مبلغ په ورکولو سره د هغه زیان او خسارې له کبله چې د هغه له فعل څخه د دولت ګټو ته رسېدلې وي. دری:[جریمه مالی]

## مالي دعوی
هغه دعوی ده چې موضوع یې د مالي حقوقو غوښتنه وي. دری: [دعوی مالی]

## مالي مائدې
له هغې مالي مائدې څخه عبارت دی چې د هغې اندازه په قانون کې د اقل حد په ټاکلو سره ځانګړې شوې وي. دری:[مائدهٔ مالی]

## مالي مستقیمه ارزیابي
د مالیه ورکوونکې شخص د بیان له مخې د مالیې وړ شي حقیقي رقم او یا میزان دی. دری:[ارزیابی مستقیم مالی]

## مالي معاوضات
هغه حقونه دي چې مالي جنبه ولري، په قانوني او شرعي توګه مجاز وي او په معاوضي عقدونو کې د دواړو خواوو ترمنځ کیږي. دری: [معاوضات مالی]

## مالې حقوق
هغه حقوق چې په مالي ارزښت برسېره د هغه نتایج هم مالي وي. دری:[حقوق مالی]

## مالی پانګې
د سرمایي ( پانګې) مبلغ چې د شتمنۍ د مجموعې او د نړیوالو محاسبوي معیارو د پورونو د تفاوت په نظر کې نه نیولو ته ویل کیږي. دری:[سرمایه مالی]

## مالی جزاګانی
هغه جزاګانې دي، چې د انسان پرمال تطبیق کیږي. دری: [مجازات مالی]

## مالی فصل
یو کوچني او تفصیلي بودجوي کود ته ویل کیږي. دری:[فصل مالی]

## مالیات
هغه ټاکلی مقدار دی چې د قانون له حکمونو سره سم د دولت خزانې ته، د حیواناتو، د ،سراني د ونو د حاصلاتو د ځمکوالی د ساحي د ټولو عوایدو او یا د باغداری د حقیقي او حکمي اشخاصو د ثابتو او غیر ثابتو عوایدو څخه تادیه کیږي. دری: [مالیات]

## مالیاتي تکلیفونه
پر عایداتو، املاکو، حیواناتو او نورو اعیانو باندې د قانوني مالیې د ورکړې مکلفیتونه.
دری: [ تکالیف مالیات]

## مالیاتی ممنوع الخروج شخص
هغه شخص چې مالیاتي او تأدیاتي حسابونه یې تصفیه کړي نه وي د ټاکل شوي قانوني نصاب پر بنسټ.
دری: [شخص ممنوع الخروج مالیاتی]

## مامومه
هغه جراحت چې د انسان مغز ته صدمه رسوي.
دری:[مامومه]

## مانع جرم
هغه جرم چې سزاګانې یې د یوبل درونډ جرم د واقع کېدلو مخ نیوی کوي. لکه د هغه ډرېور سزاګانې چې د ډرېورۍ لایسنس نه لري. دری:[جرم مانع]

## ماهر اشخاص
هغه اشخاص دي چې په یو ځانګړې فن کې د مسلکي او حرفوي مهارت لرونکي وي. دری: [اشخاص ماهر]

## ماهر ښکاري
هغه څوك دی چې د ښکار له فن سره پوره بلدتیا ولري او وروسته د ښکار د جواز له اخیستنې ښکار د کسب په توګه ترسره کړي. دری:[ سیرکن یا شکارچی]

## ماهوي جزایی قوانین
هغه قوانین دي چې جرم تعریف او جزایي مسوولیت، د جرم شریکان او د هغوې جزاګانې ټاکي.
دری:[قانون ماهوی جزایی]

## مباح
د شرعي تکلیفي احکامو څخه دی چې د هغې په اساس د هغه عمل، حکم چې په شرعي توګه مباح شوی وي، کول او نه کول یې یو شان وي. دری: [مباح]

## مباح شیان
هغه شیان دي چې د هېڅا ملك نه وي او هغه پخپل حیازت کې راوړي. دری: [اشیاء مباح]

## مباح طلاق
هغه طلاق دی چې د محبت د نشتوالي او د زوجینو ترمنځ د نفرت د شتون له امله صورت مومي.
دری:[طلاق مباح]

## مباح مال
هغه مال ته ویل کېږي چې د یو ځانګړي شخص په ملکیت کې نه وي او د هغه په تملیك (لاس ته راوړلو) کښې شرعي او قانوني موانع موجودی نه وي.
دری:[مال مباح]

## مبارات
د طلاق هغه ډول چې د زوجې له خوا د مشروط مبلغ په ورکړې سره چې له مهر څخه زیات نه وي، د زوجیت د رابطې انحلال سبب شي. دری: [مبارات]

## مباشر
هغه شخص ته ویل کېږي چې په بالفعله توګه د یو عقد او یا تصرف په سر ته رسولو کې اخته شي.
دری: [مباشر]

## مباشر اتلاف
په مادي ډول د یو شي له مینځه وړلوته اتلاف وایي.
دری:[اتلاف مباشر]

## مباشر داین
هغه پور ورکوونکی دی چې مستقیماً یې بل ته پیسی په قرض ورکړي وي. دری: [مباشر داین]

## مبتذل سمعي او بصري آثار
هغه آثار چې ناولې صحنې او تصویرونه لري او د شریعت او قانون مخالف مضمون تبلیغوي.
دری: [آثار سمعی و بصری مبتذله]

## مبذور ارض
هغه ځمکه چې په هغې کې تخم پاشل شوی او د خاورو لاندې شوی او کرل شوی وي. دری: [ ارض مبذور]

## مبرله
هغه شخص دی چې هغې ته إبرا شوې وي.
دری: [مبرله]

## مبری
هغه شخص ته ویل کیږي چې د جرم له تور څخه تبرئه شوی وي. (تبرئه ته دې مراجعه وشي) دری:[مبری]

## مبیت نیت
هغه نیت چې جاني د فکر کولو څخه وروسته فعل سرته رسوي که څه هم د جرم د تنفیذ په وخت کې وي او که د هغې د تصمیم نیولو په وخت کې. دری: [نیت مبیت]

## مبیعه
مبیعه له هغه عین څخه عبارت دی چې خرڅیږي او د بیې اصلي مقصد ګڼل کیږي. دری:[مبیعه]

## متبایعان
د پلورونکي او پیرودونکي څخه عبارت دي.
دری:[متبایعان]

## متباین عددونه
هغه عددونه دي چې مشترک مخرج ونلري او دواړه په دریم عدد باندې د پوره تقسیم وړ نه وي.
دری:[اعداد متباین]

## متبرع
هغه شخص ته ویل کیږي چې یو شي پرته د هغه له بدل څخه اهدأ کړي او یا هم یو عمل پرته له دې څخه چې د مقابل لوري څخه کومه توقع ولري سرته ورسوي.
دری: [متبرع]

## متبوع
هغې مبیعې ته ویل کیږي چې د څنګ په څنګ او منفصلو برخو لرونکی وي. دری: [متبوع]

## متجاوز ګرو اخیستونکی
هغه شخص دی چې ګرو شوې مال وپلوري او یا یې د ګروي ورکوونکي له اجازې پرته په ودیعت، عاریت او یا ګرو ورکړي. دری:[رهن گیرنده متجاوز]

## متجاهر
هغه شخص دی چې د ټولو خلکو په مخ کې په فسق او فجور لاس پورې کوي او د مجرمانه او حرامو اعمالو مرتکب کیږي. دری:[متجاهر]

## متحابه دولتونه
هغو هېوادونو ته ویل کېږي چې له یو بل سره نیک اړیکې لري. دری: [دول متحابه]

## متحدالمقصد تولیز جرم
هغه جرم چې د څو تنو له خوا یې په پرله پسې ډول او په داسي توګه ارتکاب مونډلای وي چې فرد، فرد او په ټولیز ډول هر یو مجرم وګڼل شي.
دری: [جرم جمعی متحد المقصد]

## متحرك دلیل
هغه شی چې کولای شي د یوه ځای څخه بل ځای ته حرکت ورکړ شي. دری:[ دلیل متحرک]

## متخلف شاهد
هغه شاهد دی چې د محکمې له خوا د شهادت د ادأ کولو په موخه جلب شوی وي او هغه پرته له مؤجه عذر د شهادت د ادأ کولو لپاره نه حاضریږي.
دری: [شاهد متخلف]

## متخلف طفل (ماشوم)

هغه ماشوم دی چې ۱۲ کالنی یې تکمیل او ۱۸ کالنی یې تکمیل کړی نه وي، د قانوني تخلف په صورت کې د عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي. دری:[طفل متخلف]

## متداوم طهر

له هغه حالت څخه عبارت دی چې د نورو ښځو د عادت پرخلاف ډېره موده ونیسي. دری: [طهر متداوم]

## مترادفه اجاره

هغه پرله پسې دوه یا څو اجارې دي چې په یوه طویل المدت اجاره کې د مؤجر د زیان د مخنیوي لپاره د قیمتونو په کټه، پدې ډول تنظیم شي چې د هر یوه ختمېدل د بل شروع وي. دری:[اجاره مترادفه]

## مترقي مالیه

هغه مالیه ده چې د هغې فیصدي د مالیې وړ عوایدو په لوړوالي زیاتیږي او صعود کوي. دری:[مالیه مترقی]

## متروك مال التجاره

هغه مال التجاره چې ګمرک ته رسېدلی وي، خو له ګمرکه نه وي اېستل شوی او د لیلام وړ وي.
دری: [مال التجاره متروک]

## متروکه (موروث)

د ویش وړ هغه مالونه او حقوق چې له متوفی څخه پاتی او د کوم بل چا پر حق پوری اړوند شوی نه وي، متروکه بلل کیږي. دری:[متروکه(موروث)]

## متروکه ځمکه

د شخص د ځمکو ساحه ده چې د بیلابیلو عواملو او د چاپېریال د شرایطو له کبله یې هغه پرې ایښی وي.
دری:[زمین متروکه]

## متروکه عقار

د مورث پاتې شوی نا منقول جایداد.
دری :[ عقار متروکه]

## متزلزل حق

هغه حق دی چې کولای شو هغه په ټاکلي موده کې زایل کړو. دری: [حق متزلزل]

## متسبب

هغه شخص ته وایي چې د بل چا په مال کې داسې تصرف وکړي چې عادتاً د مال د تلف (له منځه وړلو) سبب وګرځي. دری:[متسبب]

## متسلب

هغه شخص چې مال په علني او ښکاره توګه شوکوي.
دری:[متسلب]

## متشرد طفل

هغه ولګرد کوچنی دی چې د قانون له حکمونو سره سم د هغه ولګردي جرم ګڼل کیږي. دری: [طفل متشرد]

## متصرف

هغه شخص دی چې منقول یا غیر منقول مال په خپل واک کې لري. دری:[متصرف]

## متصرف الیه

هغه شخص دی چې یو مال او یا حق په مشروع او یا غیر مشروع توګه د هغه تر تصرف لاندې راغلی وي.
دری: [متصرف الیه]

## متصل ګاونډی

هغه ګاونډی چې د هغه مملوکه عقار د شخص د ملکیت سره د یو یا زیاتو جناحونو څخه متصل وي.
دری: [همجوار متصل]

## متصله ګټې

له هغو کیفیتي اوصافو څخه دي چې د عین ارزښت زیاتوي. دری:[منافع متصله]

## متضامن

هغه شخص دی چې د یو دیني یا عیني حق ورکړه ئې د هغه د حقیقي خاوند او مالک لپاره د اصلي متعهد شخص سره یوځای ضمانت کړی وي. دری: [متضامن]

## متضامن مدیون

هغه مدیون دی چې د دین په ادا کولو کې د یو یا څو تنو په تضامني ډول تعهدو کړي. دری: [مدیون متضامن]

## متضرر

هغه شخص دی چې د یو مضر فعل او یا د حادثې د سرته رسولو په اثر د مادي او یا معنوي تاوان سره مخ شوی وي. دری: [متضرر]

## متعارف

هغه څه چې د ټولنې د جاریه عرف او تعامل سره معمول وي. دری:[متعارف]

## متعاقبه عقدونه

هغه عقدونه چې په پرله پسې توګه د یو شخص او یا څو اشخاصو له طرفه ئې انعقاد موندلی وي.

دری: [ عقود متعاقبه]

## متعاقدین

د عقد دواړو خواووته ویل کیږي. دری:[متعاقدین]

## متعدده رأیه

هغه رایه ده چې یو تن د قانون له احکامو سره سم د بیلا بیلو کرسیو لپاره د څو رایو حق ولري.

دری:[ رای متعدد]

## متعدي

هغه شخص دی چې د نورو پر حقوقو، شتمنیو او یا نفس باندې تیری وکړي. دری: [ متعدی]

## متعرض

هغه شخص چې د یو حقیقی یا حکمي شخص معنوي او یا مادي حقوق نقض کړي. دری: [متعرض]

## مُتَعَمِد

هغه چاته ویل کیږي چې د پوهې له مخې او په قصدي توګه یو عمل ترسره کړي. دری: [مُتَعَمِد]

## متعه ازدواج (واده)

د واده له هغه لنډ مهالي عقد څخه عبارت دی چې انعقاد یی د متعي په لفظ یعنی د یوې ټاکلي او یا هم نا ټاکلي مودې لپاره له ښځې څخه د ګټې اخیستنې په موخه صورت و مومي چې د افغانستان د مدني قانون له مخې، د شاهدانو پرشته والي سربیره د اعتبار وړندی.

دری: [ازدواج متعه]

## متعهد (ژمنه کوونکی)

هغه شخص چې د عقد د غوښتنې او یا هم د قانون د حکم له مخې د یوه یا څو تنو ټاکلیو اشخاصو په ګټه د یوه شي په ورکولو، د یوه ټاکلي کار په کړلو او یا هم نه کړلو مکلف وي، ژمنه کوونکی دی. دری:[متعهد]

## متفاوته عددیات

هغه معدودات دي چې د هغوې ترمنځ د بیې توپیر شتوالی ولري. دری:[عددیات متفاوته]

## متقابله دعوی

هغه دعوی ده چې د مدعي علیه له خوا د مدعي د دعوی په مقابل کې اقامه کیږي، په دې ډول چې د اصل دعوی سره یوه منشأ ولري او د اصل دعوی په باب تصمیم په هغې باندې تاثیر اچوي. دری: [دعوی متقابل]

## متقاربه عددیات

هغه معدودات چې د افرادو او احادو ترمنځ یې د بیې توپیر شتوالی ونلري. دری: [عددیات متقاربه]

## متقاسمین
هغه اشخاص چې مشاع مال یې ترمنځ ویشل شوی وي.
دری: [ متقاسمین]

## متقلبانه
د هغه عمل ترسره کول دی چې د درغلۍ او حیلې له مخې په خپله ګټه او د بل چا په تاوان ترسره شوی وي.
دری:[متقلبانه]

## متقوم مال
له هغه مال څخه عبارت دی چې د مطلق قیمت وړ وي او که د تیري کوونکي له خوا له منځه یوړل شي د تضمین وړ وي. دری: [مال متقوم]

## متکرر متخلف
هغه شخص چې یوځلي په جزاء محکوم شوی وي او بیا د جرم مرتکب شي. دری: [متخلفین متکرر]

## متلاحمه
هغه جراحت دی چې د غوښې د ژورې غوڅونې موجب شي اما هډوکې ته ونه رسیږي. دری: [متلاحمه]

## متلف
د مال یا نورو شیانو تلف کوونکی. دری: [متلف]

## متم قسم
له هغه قسم څخه عبارت دی چې د دعوی د موضوع او یا د هغه شي په قیمت کې چې پر هغه باندې حکم باید صورت ومومي د حکم د استناد کولو لپاره، د محکمې له خوا د دعوی یو لوري ته متوجه وګرځولای شي.
دری: [قسم متمم]

## متمم یمین
له هغه ډول قسم څخه عبارت دی چې قاضي د خپل علم لپاره هرې خواته چې وغواړي توجیه کوي.
دری: [یمین متمم]

## متنازع علیه
د دعوی له هرې هغې موضوع څخه عبارت دی چې په دعواګانو کې د دواړو خواوو له خوا تر منازعې لاندې راشي. دری: [متنازع علیه]

## متنازل إلیه
هغه شخص ته ویل کیږي چې له خپل ځان سره د یو حق یا یو شي په ساتلو باندې د مقابل لوري د قانوني دلایلو او اسنادو سره سم تنازل وکړي او هغه د قانوني او تعاملاتي شرایطو سره سم د هغه واقعي خاوند ته وسپاري. دری: [متنازل الیه]

## متناسب مالیات (متناسبې مالیې)
هغه مالیې چې تعرفه یې ثابته وي او د مالیې د مأخذ د نوسان او توپیرونو په زیاتېدو کې بې تفاوته وي او تغییر (بدلون) ونه کړي. دری:[مالیات متناسب]

## متناوب کار
هغه کار دی چې په متوالي توګه نه ترسره کیږي بلکې په ټاکلیو ساعتونو کې د مهلې ویش سره سم ترسره کیږي.

(کار ته دې مراجعه وشي). دری: [کار متناوب]

## متواتر شهود
هغه شاهدان چې د دوی حاضریدل د مدعی بها د اثبات لپاره د محکمې له خوا د ټاکلیو نصابو سره سم غوښتل کیږي او د تزکیې وړ نه دي. دری: [شهود متواتر]

## متواترات
هغه ټولنیز خبر دی چې عقل یې په دروغو باندې تباني محال وګڼي. دری: [متواترات]

## متوالي جرم
هغه جرم چې ټولو ارکانو او عناصرو یې څو څو ځله ارتکاب موندلی وي. دری: [جرم متوالی]

## متوالي جرمونه
هغه جرمونه چې په تکراري توګه او يو د بل پسې صورت مومي. دری: [جرایم متوالی]

## متوفی
هغه مړ شوی شخص چې شتمنې يې د ورثه وو تر مينځ د قانون د احکامو سره سم ويشل کيږي. دری:[متوفی]

## متولي
هغه شخص دی چې د موقوفه چارو اداره يې په غاړه وي. دری:[متولی]

## متهب (مهوب له)
هغه شخص دی چې هبه قبلوي. دری: [متهب (مهوب له)]

## متهم
هغه کس دی چې د څارنوال له خوا د جرم نسبت هغه ته شوی وي. دری: [متهم]

## مثبت تکليف
هغه عمل دی چې مکلف بايد هغه ترسره کړي. (تکليف ته دې مراجعه وشي). دری: [مثبت تکليف]

## مثل اجرت
هغه اجرت دی چې د يوه کسانو له خوا ټاکل شوی وي. دری:[اجرت مثل]

## مثل مهر
هغه مهر دی چې د واده د عقد د انعقاد پر مهال تحديد او ټاکل شوی نه وي بلکې زوجې ته د هغې د پلار د اقاربو له مخې وروسته ټاکل کيږي. دری:[مهر مثل]

## مثله
د بدن د يوه يا څو غړو غوڅول له مقتول څخه، مثله نوميږي. دری:[مثله]

## مثله کول
د مقتول د بدن د غړيو ټوټه ټوټه کول دي. دری:[مثله نمودن]

## مثلی شيان(مثلي مال)
هغه شيان دي چې د مثل له مخې يې نظاير زيات وي او کېدای شي چې له ملاحظې وړ توپير پرته، د عرف له مخې يو د بل پرځای و کارول شي. دری:[اشیای مثلی(مال مثلی)]

## مثمن
هغه دی چې په پيسو سره خرڅ شوی وي. دری:[مثمن]

## مجاز سهام (ونډې)
عبارت له هغو سهمونو څخه دي چې ټول شرکتونه يې حقيقي يا حکمي، کورني او بهرني شخصيتونو ته د صادرولو اجازه لري. دری: [سهام مجاز]

## مجازات
هغه جزا ده چې د قوانينو د نقض او يا د جرم د ارتکاب په خاطر له قانون سره سم په مجرم باندې تحميليږي. دری:[مجازات]

## مجازي معنی
هغې معنی ته ويل کيږي چې اصلاً له لفظ څخه چې د هغې لپاره وضع شوی نه دی خو د حقيقي معنی سره د هغې د مناسبت او قرينې په نظر کې نيولو سره وپوهېدل شي. دری: [معنی مجازی]

## مجازې سيمې
هغه سيمې دی چې په هغو کې ښکارکول جواز ولري او د دولت له طرفه د يو وحش ژوند د پناه ځای په حيث تر حفاظت لاندې وي. دری:[مناطق مجاز]

## مجبر ولي
هغه شخص چې د اجبار ولايت درلودونکی وي. (اجبار ولايت ته دې مراجعه وشي) دری: [ولی مجبر]

## مجبره سبب

هغه سبب دی چې په جبري توګه او د شخص له ارادې څخه بهر د طبیعي او یا عارضي عواملو له کبله مینځته راشي. دری: [سبب مجبره]

## مجبره قوه

هر هغه فعل او حادثه چې د شخص له ارادې او خواست څخه بهر په قانوني او یا غیر قانوني توګه عملي شي.
دری: [قوهٔ مُجبِرَه]

## مجرایي

د هغه دین له اسقاط څخه عبارت دی چې دوه تنه یې یو د بل په وړاندې یو پر بل باندې لرونکي وي.
دری:[مجرایی]

## مجرد اقتباس

هغه اقتباس چې د هغه موضوع د یوه کتاب په مطالبو پورې محدوده وي. دری:[اقتباس مجرد]

## مجرم

له هغه شخص څخه عبارت دی چې د هغه عمل قانون د جرم په توګه پیژندلی وي او له قانون سره سم د جزأ مستوجب ګڼل کیږي او شخص مادتاً، قصداً، او عملاً دهغې مرتکب شوی وي. دری:[مجرم]

## مجلوب

مجلوب هغه شخص دی چې د مطبوع پاڼې پر اساس واکمنې مرجع ته د موضوع یا موضوعګانو د روښانتیا لپاره غوښتل کیږي. دری: [مجلوب]

## مجموعي ترقي مالیات

د مالیه ورکوونکي د ټولو مالیې وړ شیان چې په یو واحده فیصدي کې شامل او د مالیې وړ شي په زیاتیدو سره صعود کوي. دری: [ترقی مجموعی مالیات]

## مجنون

هغه څوک چې خپله ګټه او تاوان نشي پیژندلای او پرته له دې چې اراده یې تمثیل او اعمال یې د ارادې تر حکم لاندې وي، د هغه لنډ مهالې او یا دایمي رواني اختلالات د هغه د اعمالو د آثارو د معنی او طبیعت د درک ځنډ شي، مجنون دی. دری:[مجنون]

## مجنی علیه

هغه څوک چې د جرمي عمل لاندې راغلی وي.
دری: [مجنی علیه]

## مجهول

هغه څه چې له معلوم څخه استنتا کیږي.
دری: [مجهول]

## مجهول المالك مالونه

هغه مالونه دي چې اصلي او واقعي مالك یې معلوم نه وي. دری:[اموال مجهول المالک]

## مجهول الهویه

هغه ژوندی یا مړ کس دی چې پیژندنه یې تثبیت نه وي.
دری:[مجهول الهویه]

## مجهول باندې اقرار

د قضأ په مجلس کې د یو شخص له خوا د یو نامعلوم حق له بیان څخه عبارت دی. دری: [اقرار به مجهول]

## محابات

له یوې برخې څخه د تیریدو پر بناء، د مالك له خوا د مال بدلول. دری: [محابات]

## محارب

له هغه شخص څخه عبارت دی چې د ډار او ویرې د رامنځته کولو او د خلکو د آزادۍ او امنیت دله منځه وړلو لپاره په وسله لاس پورې کوي. دری:[محارب]

**محاسب**

هغه شخص چې د سوداګرو او شرکتونو او نورو اداراتو د مالي تنظیم چارې ثبت او وروسته یې د اجرأ په موخه اړوندو مراجعوته استوي. دری: [محاسب]

**محاکماتي اطاله**

د محاکمې د جریان طولاني کېدلو او اوږدوالي ته وايې. دری: [اطاله محاکماتی]

**محاکماتی غایب**

هغه شخص چې د دعوی د طرف او قضايي هیئت په مقابل کې د محکمې په قضايي غونډو کې حضور و نه لري. دری: [غایب محاکماتی]

**محال به**

هغه مال دی چې احاله شوی وي. دری:[محال به]

**محال علیه**

هغه شخص دی چې حواله یې په خپله منلی وي. دری:[محال علیه]

**محاوله**

هغه اصطلاح چې د نامشروع او غیر قانوني هڅې په اړه د یو قانوني او مشروع کار د نه سرته رسولو په لاره کې کارول کیږي. دری: [محاوله]

**محبس**

هغه ځای دی چې هلته هغه اشخاص چې د باصلاحیته محکمې په وروستنی حکم محکوم علیه ګڼل شوي دي ساتل کیږي. دری: [محبس]

**محبوس**

هغه شخص چې د محکمې په غوښ حکم د آزادۍ د سلب په جزاء محکوم شوی وي او په یوه محبس کې بندي وي. دری: [محبوس]

**محتال**

هغه شخص ته ویل کیږي چې په جعل، تقلب او یا تزویر لاس پورې کوي. دری: [محتال]

**محتضر**

هغه شخص چې د مرګ او ساوتلو په حالت کې وي. دری: [محتضر]

**محتکر**

هغه شخص دی چې د عامه وګړو د اړتیا وړ او ضروري خوراکي توکي، د بیې د لوړېدو په قصد راټولوي، ساتي او احتکاروي. دری:[محتکر]

**محتمل الوقوع ضرر**

هغه ضرر ته ویل کیږي چې د هغه واقع کېدل حتمي نه وي. دری:[ ضرر محتمل الوقوع]

**محجوب**

هغه شخص چې د بل شخص د شتوالي له امله د ټول میراث او یا هم د هغه له یوې برخې څخه محروم شوی وي. دری:[محجوب]

**محجور**

د مدني حقوقو په اصطلاح کې، محجور هغه شخصیت دی چې د شرایطو د نه پوره کولو له مخې د قانون له حکمونو سره سم د حقوقي تصرفاتو څخه منع دی. (اهلیت ته دې رجوع وشي). دری:[محجور]

**محجور علیه**

هغه شخص ته ویل کیږي چې په شرعي او قانوني توګه د هغه قولي تصرف او یا د هغه انفاذ ممنوع شوی وي. دری: [محجور علیه]

**محجور مدیون**

له هغه مدیون څخه عبارت دی چې د محکمې د حکم پر بنسټ تر حجر لاندې وي. دری: [مدیون محجور]

## محجوز علیها

هغه مال دی چې د محکمې پر حکم د حجز لاندې راغلی وي. دری: [محجوز علیها]

## محدود

هغه عقار دی چې حدود او د چاپېریال ټاکل یې ممکن وي. دری:[محدود]

## محدود المسوولیت شرکت

له هغه شرکت څخه عبارت دی چې د دوو یا دوو څخه د زیاتو کسانو ترمنځ د سوداګرۍ د چارو لپاره تشکیلیږي او پرته له دې چې د هغوې سهمونه یا د سهمونو برخې سره تقسیم شي یوازې د خپلې سرمایې په اندازه د پوروونو او تعهداتو د شرکت په وړاندې مسوول ګڼل کېږي.
دری: [شرکت محدودالمسوولیت]

## محدود المسوولیت شريك

هغه شریک ته ویل کیږي چې د یوه تړون پر اساس یې له مخکې څخه د شراکت حدود محدود شوی وي. (شریک ته دې مراجعه وشي).
دری: [شریک محدودالمسوولیت]

## محدود تفسیر

د قانون په متن کې محدود تفسیر دی.
دری: [تفسیر محدود]

## محرز مال

هغه مال ته ویل کیږي چې په حرز کې وي. (حرز ته دې مراجعه وشي) دری:[مال محرز]

## محرم اقارب

له هغو خپلوانو څخه عبارت دي چې د شخص نکاح ور سره روانه وي. دری: [اقارب محرم]

## محصن

هغه مسلمان کس دی چې په صحیح ازدواج کې ئې وطی سرته رسولې وي. دری: [محصن]

## محصن زاني

له هغه نر څخه عبارت دی چې متاهل وي او د زنا د فعل مرتکب شوی وي. دری:[زانی محصن]

## محصنه

هغې ښځې ته ویل کیږي چې د احصان د صفت څښتنه وي او د قانوني واده په عقد کې راغلې وي.
دری:[محصنه]

## محصنه زانیه

پر هغې ښځې اطلاق کېږي چې مېروښه وي او د زنا د فعل مرتکبه شوې وي. دری:[زانیه محصنه]

## محصول

له کرنیزو او صنعتي تولیداتو څخه عبارت دی چې د محصول په بڼې سره ذکر کیږي، لکه کرنیز محصول او یا صنعتي محصول. دری: [محصول]

## محض امانت

هغه امانت دی چې مالك د امین شخص سره د اعتماد له مخې مال د ساتنې لپاره سپاري. (امانت ته دې مراجعه وشي). دری: [امانت محض]

## محظورات

هغه اعمال او افعال دي چې په شرعي او قانوني توګه په عادي حالت کې د هغوی سرته رسول د اشخاصو له خوا ممنوع شوی وي. دری: [محظورات]

## محقق الوقوع

هغه عمل یا حادثې ته ویل کیږي چې وقوع ئې تحقق موندلی وي. دری: [محقق الوقوع]

## محقون الدم

هغه شخص دی چې ژوند یې شرعاً او قانوناً مصوون وي په هغه صورت کې چې د بل شخص له خوا په قتل ورسي قاتل ور باندې قصاص کیږي. دری:[محقون الدم]

## محکمه
هغه ځای یا مجلس دی چې په هغه کې د قضایي هیئت له خوا دعوی څېړل کېږي. دری: [محکمه]

## محکوم
هغه شخص ته ویل کیږي چې د قانون او د محکمې د حکم په اساس محکوم شوی وي. دری:[محکوم]

## محکوم به
هغه شی دی چې د حکم موضوع وي.
دری: [محکوم به]

## محکوم علیه
هغه څوک دی چې د هغه پر خلاف د (تاوان) حکم شوی وي. دری: [محکوم علیه]

## محکوم له
هغه څوک دی چې د هغه په ګټه حکم شوی وي.
دری: [محکوم له]

## محلل
هغه شخص دی چې د یو شرعي حیلې پر اثر خپله ښځه وروسته له دریو طلاقو څخه بیاهم خپل ځان ته حلاله وي. دری:[محلل]

## محلوف علیه
هغه شخص دی چې یمین یې په زیان ادا شوی وي. (یمین ته دې مراجعه وشي). دری: [محلوف علیه]

## محلی اداري واحد
محلي اداري واحد ولایت دی، چې د هغه شمیر، اجزاء او تشکیلات له قانون سره سم تنظیمیږي.
دری:[ واحد اداری محلی]

## محمول الیه
هغه شخص ته ویل کیږي چې لیږدول شوی مالونه ورته رسیږي. دری: [محمول الیه]

## محیل
هغه شخص چې د داین غوښتنه یې له ذمې څخه د دریم شخص ذمې ته ولېږدول شي، محیل بلل کېږي.
دری:[محیل]

## مخابراتي جرمونه
هغه جرایم دي چې یو شخص راډیویي ارتباطي دستګاه په غیر قانوني توګه فعاله او یا بې له قانوني اجازې څخه په کار واچوي. دری:[جرایم مخابراتی]

## مخاصمت
د دوو خواوو ترمینځ د یوې ادعا په اړه د نه موافقې، شته والی او تداوم ته ویل کیږي. دری: [مخاصمت]

## مخبر
هغه شخص دی چې د قاچاقي او منع شویو شیانو د شتون د پټن ځي او یا د هغه جرمي عمل په اړوند چې د پېښېدو په حال کې دی اړوندو مراجعو ته خبر ورکوي.
دری:[مخبر]

## مختار وصي
هغه شخص ته چې د موصي د ژوند په وخت کې د هغه له خوا د پاتې شویو صغیرانو د مالي او غیر مالي چارو د سرپرستي لپاره وټاکل شي ویل کیږي.
دری: [وصی مختار]

## مختلس
هغه شخص دی چې د اختلاس د جرم مرتکب شوی وي. (اختلاس ته دې مراجعه وشي). دری:[مختلس]

## مختلط سیستم
د جزائي اجراآتو هغه سیستم دی چې په هغه کې د جزائي دعوې تحریک د ټولنې حق او د خسارې جبران د مجني علیه حق دی. دری: [سیستم مختلط]

## مخدوش سند

هغه سند دی چې د یو شخص له خوا پکښې لاس وهل شوی وي. دری:[سند مخدوش]

## مخطوبه

هغې ښځې ته ویل کېږي چې غوښتنه یې کېږي. دری:[مخطوبه]

## مخطی طلاق

هغه حالت دی چې په هغه کې میړه خپله زوجه د خطا له مخې طلاقه کړې وي. دری:[طلاق مخطی]

## مخفف کیفیتونه

اوضاع او احوال چې د قانون له مخی د جزا ګانو د کموالي سبب ګرځي. دری: [احوال مخففه]

## مخففه حالات

هغه حالات دي چې قاضي د جزاء اقل حد د جرم پر مرتکب تطبیق کړي. دری:[حالات مخففه]

## مخفي متضرر

هغه وګړی چې له جرم څخه په مادي او یا معنوي ضرر متحمل شوی وي، ولې د قضائي مراجعو د بې اعتمادۍ او یا د خپل ټولنیز دریځ په علت د ساتنې صلاحیت لرونکو مراجعو ته ګزارش نه ورکوي.
دری: [متضرر مخفی]

## مخیر

د شخص آزادي ده چې د عمل یا عملونو په ترسره کولو یا نه ترسره کولو باندې د قانون له احکامو سره سم آزاد وي. دری: [مخیر]

## مخیر ولي (خپلواك ولي)

هغه شخص چې د ولایت د اختیار لرونکی وي. (اختیار ولایت ته دې مراجعه وشي) دری: [ولی مخیر]

## مدافع وکیل

هغه شخص چې د مدافع وکیلانو په فهرست کې شامل وي، د قانون د حکمونو مطابق د محکمو او نورو مراجعو په وړاندې د خپل مؤکول له حق څخه دفاع یا د دعوې اقامه کوي. دری:[وکیل مدافع]

## مدافعاتو باندې استناد

د شخص له خوا پر هغو قانوني او شرعي وسایلو او دلایلو باندې تمسک کول چې د هغه خوا د یو خلاف کار او یا عمل د سرته رسولو او یا هم د یو دیني یا عیني حق د ورکړې څخه د تبرئې لامل وګرځي.
دری: [استناد به مدافعات]

## مداقي

هغه شرعي اصطلاح چې په بېلابېلو چارو کې د دقت کولو په معني کارول کېږي. دری: [مداقی]

## مداوله

د قاضیانو ترمینځ د نظر بدلول چې د محاکمې په ترځ کې ګډون لري د حکم د صادرولو په موخه.
دری:[مداوله]

## مدعي

هغه شخص دی چې خپل حق د بل شخص څخه د محکمې په وړاندې غواړي. دری: [مدعی]

## مدعي العموم

هغه رسمي شخص ته ویل کېږي چې د عامه حقوقو د ساتنې او د قوانینو د اجرأ نظارت د هغه دنده وي.
دری:[مدعی العموم]

## مدعي علیه

هغه شخص دی چې له هغه څخه د محکمې په وړاندې حق غوښتل کېږي. دری: [مدعی علیه]

## مدعی بها

هغه غوښتل شوی شی دی چې په هغې کې ټول هغه حقوق چې قانوني بڼه ولري شامل وي او د قانون له حکمونو سره سم د مدعی بها په توګه د محکمې په وړاندې واقع شي. دری: [مدعی بها]

## مدلل قرار

هغه عدلي او قضايي قرار چې د دعوې شکلی پاملرنې ته ځیر وي او د هغې د قانوني شرایطو سره سم په دلایلو او استدلال باندې متکي وي. دری: [قرار مدلل]

## مدني (حقوقي) دعوی

هغې دعوې ته ویل کیږي چې د مدني حقوقو اړوند له حقوقي روابطو څخه رامینځ ته شوی وي.

دری: [دعوی مدنی (حقوقی)]

## مدني احوال

عبارت له هغه حالت او وضعیت څخه دی، چې د حقیقي شخص د پیژندنې لپاره مدني قانون ټاکلی دی.

دری: [احوال مدنی]

## مدني اهمال

په سمه توګه د یوه حقوقي تعهد په سرته رسولو کې د یوه شخص پاتې راتلل او تقصیر ته ویل کیږي.

دری: [اهمال مدنی]

## مدني تعاقدي مسوولیت

له هغه ډول مسوولیت څخه عبارت دی چې په ټاکلي وخت د تعاقدي وجیبې د نه ترسره کولو له امله رامینځته کیږي. دری:[ مسوولیت مدنی تعاقدی]

## مدني تعهد

هغه تعهد چې د سرته رسولو په اړوند یې قانوني ضمانت شتوالی لري، مدني تعهد دی. دری:[تعهد مدنی]

## مدني ثمر

هغه ثمر دی چې د یو مدني تعهد په نتیجه کې لاس ته راشي. دری: [ثمر مدنی]

## مدني جریمه

د شخص الزامول د وارده خسارې د جبران په ورکولو سره. دری: [ جریمه مدنی]

## مدني حقوق

له هغو قواعدو څخه عبارت دي چې د ټولنې د وګړو ترمینځ اړیکې، تنظیموي. دری:[حقوق مدنی]

## مدني محرومیت

هغه حالت چې په هغه کې یو شخص د محکمې له خوا د ډیر سخت محکومیت له مخې له ځینو مدني حقوقو او آزادیو څخه بې برخې کیږي. دری: [محرومیت مدنی]

## مدني مرګ

هغه حالت چې په هغې کې یوه شخص د ډېر شدید محکومیت پربنسټ د محکمې له خوا د ځینو مدنی حقوقو او آزادیو لکه د قراردادونو عقد یا د ترکی د میراث وړلو څخه محرومیږي. دری: [مرګ مدنی]

## مدني مسوولیت

له هغه ډول مسوولیت څخه عبارت دی چې له مدني قواعدو او مقرراتو څخه د سرغړونې یا د حقوقي حوادثو له امله، مینځته راځي. دری:[مسوولیت مدنی]

## مدیره هیأت

هغه ډله کسان دي چې د جمعیت، ټولنې او یا شرکت لارښوونه پر غاړه لري. دری: [هیأت مدیرهٔ]

## مدیون

هغه شخص چې پر ذمه یې تعهد د بل په ګټه شتوالی ولري. دری:[مدیون]

## مرابحه

د لومړني عقد په لومړنی بیه د یو شي لېږدول د ګټې د زیاتېدو سره مالک ته. دری: [مرابحه]

## مرابحه بیع

هغه خرڅون دی چې د پخواني قیمت په نسبت پر ګټه خرڅول شوی وي. (بیع ته دې مراجعه وشي).
دری:[بیع مرابحه]

## مراجعه

حقوقي یا حکمي اشخاصو ته مراجعه کول د حق د لاس ته راوړلو په موخه. دری: [مراجعه]

## مراقبتي اقدامات

په بندو ځایو کې د مجرمینو ساتنه او مراقبت.
دری: [اقدامات مراقبتی]

## مراهقه

هغه پېغله او یا ښځه چې د ازدواج د اهلیت سن ئې د قانون له حکمونو سره سم نه وي تکمیل کړي.
دری: [مراهقه]

## مرتبط اقرار

هغه اقرار دی چې د اقرار موضوع له دوو یا څو مرتبطو اجزاوو څخه جوړه شوې وي. دری: [اقرار مرتبط]

## مرتشي

د هغه عامه خدمتونو له مؤظف څخه عبارت دی چې د یوه عمل د کولو یا د هغه عمل د نه کولو په موخه چې د وظیفې له مخې د هغه کار دی یوه مالی وجه اخلي او یا د هغې وعده اخلي. دری: [مرتشی]

## مرتضع

هغه ماشوم چې د مسترضع له سینې څخه شېدې څښي. (مسترضع ته دې مراجعه وشي). دری: [ مرتضع]

## مرتفق به عقار

هغه ملك دی چې د ارتفاق حق په هغې کې ثابت شوی وي. دری: [عقار مرتفق به]

## مرتفق عقار

هغه عقار ملك دی چې د یو بل عقار سره په داسې توګه نښلول شوی وي چې د هغې لپاره د ارتفاق د ځینې حقوقو لامل وګرځي. دری: [عقار مرتفق]

## مرتکب

هغه څوك چې د قانون پر خلاف عمل وکړي او د دې عمل لپاره په قانون کی جزاء ټاکل شوی وي، مرتکب ګڼل کیږي. دری: [مرتکب]

## مرتهن

هغه شخص دی چې عین ئې په ګروی اخیستی وي.
دری:[مرتهن]

## مردوده یمین

هغه یمین دی چې د مدعي علیه له خوا مدعي ته رد شوی وي. دری: [یمین مردوده]

## مرسله مصالح

هغه چارې چې په هغو کې د شریعت له خوا امر یا نهې نه وي راغلي. دری: [مصالح مرسله]

## مرکب اقتباس

هغه اقتباس چې موضوعات یې له څو کتابو او آثارو را غونډ شوی وي. دری:[اقتباس مرکب]

## مرکب جرم

هغه جرم دی چې د څو داسې توپیر لرونکو عملونو څخه جوړ شوی وي چې عمل په یوازې توګه د جزا وړ نه وي. دری:[جرم مرکب]

## مرکب جرمونه

له هغو جرمونو څخه عبارت دي چې د هغو مادي عنصر د متعددو اجزاؤ څخه جوړيږي. دری:[جرایم مرکب]

## مرکب خطونه

له هغو نقشونو څخه عبارت دی چی د مختلفو خطونو د ترکیب پرته له ساده قوس خطونو څخه جوړ شوی وي.
دری: [خطوط مرکب]

## مرکزي اداره

پر يو شمېر هغو اداري واحدونو (وزارتونو) باندې ويشل کيږي چې د هر يوه په سر کې يو وزير موقعيت لري.
دری:[ ادارهٔ مرکزی]

## مرګانی جرح (ممیت جرح)

له هغو جرحې څخه عبارت ده چې آناً او فوراً او يا هم له اصابت څخه له کمې مودې وروسته د مرګ سبب کيږي. دری: [جرح کشنده (جرح ممیت)]

## مرګونې تعدید

هغه تعدید دی چې د هغه په نتیجه کې د هغه شخص په ذهن کې چې تر تعدید لاندې وي مرګ يا يو سخت ټپ پیدا کيږي. دری:[تعدید مرگبار]

## مرمۍ

د يوه پخ جسم څخه عبارت دی چې د باروتو او د سلاح د میخانیکیت د فشار له کبله په ډېره چټکۍ سره د جسم سره تصادم کوي او په جسم کې خاص شکلونه له ځانه پرېږدي او مختلف ډولونه لري او د انسان د قتل يا ټپی کېدو سبب ګرځي. دری: [مرمی]

## مرور زمان

د دعوی د سقوط له عواملو څخه دی چې د وخت په تېرېدو سره چې قانون ټاکلی، دعوی ساقطیږي.
دری:[مرور زمان]

## مرهونه عين

له هغه عيني شتمنيو څخه عبارت دی چې تر ګروی لاندې وي. دری: [عین مرهونه]

## مړينه «مرګ»

د روح او جسم د اړيکو قطع کېدل دي.
دری: [موت "مرگ"]

## مزابنه بیع

د يو شی خرڅول دي په تخمين، تقدير، پيمانه او اندازه.
دری:[بیع مزابنه]

## مزاحمت

ځورول او د زحمت او محنت ایجاد دی چې د شخص يا اشخاصو له خوا پر شخص يا اشخاصو صورت مومي چې د ټولنې د احتمالي او اخلاقي اصولو او معیارونو سره په تناقض کې وي. دری: [مزاحمت]

## مزال شئ

هغه شئ دی چې له منځه ځي، تلف يا محو کېږي.
دری: [شی مزال]

## مزايده

مزايده د مال د پلورنې يوه ځانګړې بڼه ده چې په هغې کې پېرودونکي يو له بل سره سيالي کوي او هر يو تر هغې بيې چې په لومړي سر کې يې بايع ته د هغې وړانديز کړی وو، د لا لوړې بيې وړانديز کوي.
دری:[مزایده]

## مزد

له هغې نقدي يا جنسي وجې څخه عبارت دی چې د کارکوونکي يا اجير د کار په وړاندې د قانون او يا يوه خصوصي تړون پر اساس ورکول کيږي. دری: [مزد]

## مزنيه

هغه ښځه چې له هغې سره په حرامه توګه جنسي مباشرت صورت نيولی وي. دری: [مزنیه]

## مساحقه
د ښځې جنسي تماس دی له بلې ښځې سره چې په شریعت کې ددې نه په زنا تعبیر شوی دی.
دری:[مساحقه]

## مسامحه
هغه حالت دی چې د شخړې دواړه خواوې یوې موافقې ته په رسېدو کې ناکام شي او مخالفت او ټکر یې هم پرېښي وي. دری: [مسامحه]

## مسبب
پر هغه شخص اطلاق کېږي چې د یوه حقوقي عمل یا حادثې د رامینځ ته کېدلو سبب وګرځي. (مباشر ته دې مراجعه وشي). دری: [مسبب]

## مست
هغه شخص دی چې د شرابو د څښلو یا د مسکره موادو د استعمال په واسطه خپل دماغي توان له لاسه ورکړي او له طبیعي حالت څخه وتلی وي. دری:[مست]

## مستأجر
هغه شخص دی چې کوم شی یې په اجاره نیولی وي.
دری:[مستأجر]

## مستحقه دین
هغه دین دی چې داین د مثبته اسنادو په موجودیت کې د هغه د تحصیل مستحق دی. دری: [دین مستحقه]

## مستحل
هغه شخص دی چې حرام حلال وګڼي. دری:[مستحل]

## مستحیل جرم
مستحیل د هغه عمل ارتکاب دی، چې د پایلې لاس ته راوړل یې غیر ممکن وي. دری:[جرم مستحیل]

## مستحیله دعوی
هغه دعوی ده چې عقلاً او عادتاً ممکنه نه وي. (دعوي ته دې مراجعه وشي). دری:[دعوی مستحیل]

## مستخدم
هغه شخص چې د عقد یا قانون پر اساس بل شخص یا اشخاصو (حقیقي وي او که حکمي) ته د اجرت په وړاندې کار ترسره کوي. دری: [مستخدم]

## مسترضع
هغه ښځه چې د اجرت په بدل کې یې پر خپل ځان باندې د شیدو ورکول لازم ګرځولی وي.
دری:[مسترضع]

## مستعار نوم
له هغه نوم څخه عبارت دی چې شخص خپل اصلي هویت له قانون سره سم د پټولو په خاطر وکاروي.
دری: [نام مستعار]

## مستعیر (عاریت اخیستونکی)
هغه شخص دی چې کوم مال د عاریت په توګه اخلي.
دری:[مستعیر(عاریت گیرنده)]

## مستقل بنفسه
د یو شي په خپل ذات او وصف باندې د هغه په مستقل توب او متکي والي باندې دلالت کوي او د هغه په اساس یو شی په مستقله توګه د مبادلې او یا سنجش د قابلیت خاوند ګرځېدلای شي. دری: [مستقل بنفسه]

## مستقیم استحصاب الحال
د پخوا پر بنسټ د یو شي د ثبوت له حکم څخه عبارت دی چې کوم دلیل د هغه په نشتوالي (عدم) کې ثابت نه شي. دری:[ استحصاب الحال مستقیم]

## مستقیم استصحاب
په حال زمانه کې حکم کول، د تېرې شوې زمانې د ثابت حکم پربنسټ. دری: [استصحاب مستقیم]

## مستقیم دلیل
هغه دلیل دی چې د هغې واقعې سره چې ثابتول ئې تر نظر لاندې دي مستقیمې اړیکې لري او د دلیل او واقعې ترمنځ کوم مینځګړی نه وي. دری: [دلیل مستقیم]

## مستقیم ضرر
هغه ضرر چې یو شخص ته د جرم له ارتکاب څخه مستقیماً ضرر رسیږي. دری:[ضرر مستقیم]

## مستقیم قرابت
د اصل او فرع ترمنځ پرته د واسطې له قرابت څخه عبارت دی. (اصل او فرع ته دې مراجعه وشي).
دری: [قرابت مستقیم]

## مستمره بیمه
هغه بیمه ده چې د پای موده نلري خو د بیمه شوی یا بیمه کوونکي په وسیله لغو کېدای شي.
دری: [بیمه مستمر]

## مستنبط العله قیاس
هغه قیاس چې شارع په خپل کلام کې علت په صریحه توګه نه وي راوړي، بلکې عقل هغه درک کړي.
دری: [قیاس مستنبط العله]

## مستنبطه حقایق
هغه حقیقتونه دي چې د شهادت او یا نورو مدرکونو د وړاندې کولو له لارې نه وي مطرح شوې بلکې د نورو حقایقو له پایلې اخیستنې څخه استنباطیږي.
دری:[حقایق مستنبطه]

## مستنبطه قرینه
هغه قرینه ده چې د هغې د خلاف اثبات جواز لري. (قرینې ته دې مراجعه وشي). دری: [قرینهٔ مستنبطه]

## مستنطق
هغه جنایي تحقیق کوونکی چې په جنایي قضیو کې له متهم یا مظنون څخه د حقایقو د کشف لپاره معلومات ترلاسه کوي. دری:[مستنطق]

## مستودع
د امانت منلو شخص دی. دری:[مستودع]

## مستهب
د هغه شخص موهوب له څخه عبارت دی چې هبه یې (موهوب لهُ) منلې وي. دری:[مستهب]

## مسدود (تړلی) حساب
هغه حساب دی چې د تخلف په سبب د قانون له حکمونو سره سم یا د محکمې په حکم له هغه څخه ګټه اخیستل مقید یا ممنوع ګرځېدلی وي.
دری: [حساب مسدود]

## مسقط
هغه شخص دی چې د جنین د اسقاط فعل یې انجام کړی وي. دری: [مسقط]

## مسلوب الاراده
هغه شخص چې اراده ئې په یو ډول نه یو ډول سلب شوې وي. دری: [مسلوب الاراده]

## مسمی اجرت
هغه اجرت دی چې د عقد د انعقاد په مهال ټاکل شوی وي. دری: [اجرت مسمی]

## مسمی پیسې
هغه پیسې دي چې د عقد د تړلو په وخت کې د دواړو خواوو په رضا وټاکل او مسمی کړې شي.
دری:[پول مسمی]

## مسمی ثمن

له هغه معین مبلغ څخه عبارت دی چې د بایع او مشتري په مینځ کې د یوې مبیعې لپاره پر هغه باندې موافقه شوې وي. دری: [ثمن مسمی]

## مسمی عقد

هغه عقد ته ویل کیږي چې د قانون له خوا په معین او مشخصو نومونو یاد شوی وي. دری:[عقد مسمی]

## مسمی مهر

هغه مهر دی چې د واده د عقد د انعقاد پر مهال د دواړو خواوو په پوره رضایت سره تحدید او ټاکل کیږي.
دری:[مهر مسمی]

## مُسنات

د اوبو پر سر او شاوخوا کې د بند او مانع ایجادولو ته ویل کیږي. دری:[مُسنات]

## مسوده

هر هغه څه چې لیکل شویدي او بیا د نومونړي لیکل شوي شي څخه په کره او صفا توګه لیکي.
دری:[مسوده]

## مسوول

هر هغه شخص ته ویل کیږي چې د خپلو قانوني او حقوقي وجیبو او دندو د نه سرته رسولو او یا له هغو څخه د سرغړونې په صورت کې په قانوني توګه د واکمنو مراجعو له خوا تر پوښتنې لاندې راځي.
دری: [مسوول]

## مسوولیت

هغه حالت دی چې د یوې وجیبې د نه ترسره کولو له امله منځته راځي. دری:[مسوولیت]

## مشابه جرمونه

له هغو جرمونو څخه عبارت دي چې د جرم د جوړښت د عناصرو د مشابهت له کبله سره یوشان وي.
دری:[جرایم مشابه]

## مشار الیه

په هر هغه شی چې اشاره ورته شوی وي.
دری: [مشارالیه]

## مشاع بیع

د څښتن لخوا د مشاع برخې پلورل دي.
دری:[بیع مشاع]

## مشاع مال

هغه مال او شتمنی ته ویل کیږي چې د شرعي او قانوني اسبابو له کبله د څو تنو ترمینځ شریکه وي.
دری: [مال مشاع]

## مشترك لفظ

هغه لفظ دی چې د دوو یا ډیرو معناګانو لپاره وضع شوی وي. دری: [لفظ مشترک]

## مشترك وقف

هغه وقف چې د خیر په لاره کې وي او د افرادو لپاره وي. دری: [وقف مشترک]

## مشرانو جرګه

د ملي شورا له مجلسونو څخه دی، چې غړی یې د اساسي قانون د حکمونو سره سم د سنا لپاره انتخاب او انتصابیږي. دری:[ مشرانو جرگه]

## مشروط انتقالي امانت

هغه سند یا مال دی چې له یوه شخص څخه بل شخص ته سپارل کیږي ترڅو هغه د ټاکلیو ژمنو د ترسره کولو په صورت کې دریم شخص ته ورکړي.
دری: [امانت انتقالی مشروط]

## مشروط تولي

چې متولي چې د واقف له شروطو سره موافق وي.
دری: [تولی مشروط]

## مشروط عقد

هغه عقد دی چې شرط یا شرطونه پکې شامل وي.
دری:[عقد مشروط]

## مشروطه آزادي

له هغه حالت څخه عبارت ده چې محکوم ته د محکومیت د دورې له پای ته رسېدو څخه مخکې د قانون سره سم ورکړه شوی وي. دری:[آزادی مشروطه]

## مشروطه ناپلوي

د ناپلوئ هغه ډول دی چې په امر یا امرونو پورې شرط شوی وي. (ناپلوي ته دې مراجعه وشي).
دری: [بی طرفی مشروط]

## مشروع پیسې

هغه پیسې دي چې قانوني صفت لري. دری: [پول مشروع]

## مشروع دفاع

د هر هغه جرمي عمل د دفاع په منظور د متناسبو وسایلو د استعمال له حق څخه عبارت دی، چې دفاع کوونکی یا بل شخص ته ، ځانی خطر یا مالي خطر تولید کړي.
دری:[دفاع مشروع]

## مشروع سبب

هغه سبب دی چې اصل (اساس او مبنایي) په یو مصلحت منتج کیږي. دری:[سبب مشروع]

## مشروع عمل

هغه عمل دی چې د قانون او شریعت له حکمونو سره سم وي. دری:[عمل مشروع]

## مشروع منفعت

هغې ګټې ته ویل کیږي چې د قانون له احکامو سره سم له مشروع مدرک څخه لاس ته راغلی وي.
دری:[منفعت مشروع]

## مشروعیت دلیل

هغه دلیل دی چې په هغه کې دلیل په مشروع او قانوني توګه لاس ته راغلی وي او د متهم د محکومیت یا برائت سبب شي. دری: [ دلیل مشروعیت]

## مشفوع

هغه عقار دی چې د شفعې حق په هغه باندې تعلق نیسي.
دری:[مشفوع]

## مشفوع بها

هغه ځمکه ده چې د هغې په سبب شفیع خپل د شفعې حق ثابتوي. دری:[مشفوع بها]

## مشفوع عقار

هغه عقار دی چې د شفعې تر حق لاندې راغلی وي.
دری: [عقار مشفوع]

## مشفوع له

هغه شخص ته ویل کیږي چې د شفع له حق څخه ګټه تر لاسه کوي. (شفع ته دې مراجعه وشي)
دری:[ مشفوع له]

## مشکل خنثی

هغه شخص دی چې د ذکور علامې او د اناث علامې هیڅ یو هم پرې غالبې نه وي. دری:[خنثی مشکل]

## مشکوك فیه

هغه تور دی چې پکښې شك او تردید مطرح او واقعیت یې قطعي نه وي. دری:[مشکوک فیه]

## مشمول حقوق

په یوه منازعه کې ټولو تر ادعا لاندې حقوقو ته ویل کیږي. دری: [حقوق مشمول]

## مشورتي نظر

یو غیر الزامي نظر دی چې په یو ټاکلي موضوع کې وړاندې کیږي. دری:[نظر مشورتی]

## مشهود به

هغه حق چې پر هغې شهادت صورت مومي. دری:[ مشهود به]

## مشهود جرم

له هغه حالت څخه عبارت دی چې د جرم د عناصرو سره کومه اړیکه نلري بلکې د هغه د کشف پورې اړه لري او د جرم د ارتکاب او د هغې د کشف ترمینځ زماني نژدېوالی وي او دا شرط ندی چې فاعل د ارتکاب په وخت کې مشهود اوسي. دری: [جرم مشهود]

## مشهود جرمونه

له هغو جرمونو څخه عبارت دي چې د خلکو د سترګو په وړاندې ارتکاب مومي او یا داچې د خلکو، د کشف د مامورینو او مجني علیه له خوا د جرم له ارتکاب څخه وروسته تعقیب او ونیول شي. دری:[جرایم مشهود]

## مشهود له

د حق خاوند چې د هغه په ګټه شهادت اداء کېږي. دری:[مشهود له]

## مشهود مجرم

له هغه شخص څخه عبارت دی چې د جرم د ارتکاب په وخت کې باالفعل ونیول شي. دری: [مجرم مشهود]

## مصادره

عبارت له هغه جزائي مؤیدي څخه ده چې دواکمنې محکمې د حکم پر بنسټ پر هغو مالونو چې په جرم پورې اړه لري تطبیق او په دولت پورې تعلق نیسي. دری: [مصادره]

## مصالح علیه

د صلحې بدل ته مصالح علیه وایي. دری:[مصالح علیه]

## مصالح عنه

د صلحې په عقد کې د مدعي به څخه عبارت دی. دری:[مصالح عنه]

## مصالحه

هغه توافق ته وایی چې اشخاص یې د خپلو ذات البیني شخړو د لېږې کولو لپاره قضاً ته له مراجعې وړاندې او یا د محکمې د وروستی پرېکړې څخه ترمخه کوي. دری: [مصالحه]

## مُصَرَّحه حدود

د اجارې د عقد لپاره له قانون سره سم د ټاکلې او محدودې مودې صریح ویل دی. دری: [حدود مُصَرِّحه]

## مصلح

هغه شخص دی چې د صلح عقد رامنځته کوي. دری:[مصلح]

## مصنوع

هغه شی چې د استصناع د عقد پر مهال یې د جوړولو په اړوند موافقه وشي. دری: [مصنوع]

## مصوبه

د تصویب شوی او تصدیق شوی په معنی دی. او یا هغه قوانین، مقررات او حکمونه چی د مقام، ډلې، مجلس او یا ټولنې له خوا څخه د تایید وړ ګرځیدلی وي. دری:[مصوبه]

## مضاجعه

د ښځې او نارینه یوځای پرېوتل او یا هم بیده کېدل دي چې د زوجیت له اړیکې پرته یو له بل سره پرېوځي. دری:[مضاجعه]

## مضارب
هغه شخص دی چې د مضاربت په عقد کې د کار د سرته رسولو له امله برخه اخلي. دری:[مضارب]

## مضاربت
هغه تړون دی چې د هغه په اساس د معاملې یوه خوا (د سرمایې څښتن) د نقدي سرمایې د تأمین تعهد کوي پدې قید چې د تړون بله خوا (عامل یا مضارب) په هغې سوداګري کوي او د هغې په حاصله ګټه کې د خپل سهم په اندازه سره شریکوي. دری: [مضاربت]

## مضاعف یا دوه ګوني تابعیت
په هغه تابعیت اطلاق کیږي چې افراد کولای شي چې د ځینو علتونو او سببونو د تابعیت د منل شوي مختلفو سیستمونو په نتیجې په یو وخت کښې لاس ته راوړي.
دری:[تابعیت مضاعف یا دوګانه]

## مضاعفه مخاطره
هغه حالت دی چې پکښې یو شخص د عین جرم په اړوند تر یوه ځل زیات محاکمه او مجازات کیږي.
دری:مخاطرهٔ مضاعف]

## مضاف طلاق
هغه طلاق چې راتلونکي ټاکلې زمانې ته وځنډول شي.
دری: [طلاق مضاف]

## مضافه اجاره
هغه اجاره ده چې شروع یې په راتلونکې مودې پورې تړل شوی وي. دری:[اجارهٔ مضافه]

## مضبوط اوقاف
هغه وقف چې د خیر لپاره اوسي پرته له هغې چې واحد متولي ولري. دری: [اوقاف مضبوطه]

## مضره فعل
له هغه زیان اړوونکي عمل څخه عبارت دی چې د نورو د ضرر باعث وګرځي. دری:[فعل مضر]

## مضره مواد
هغه مواد دي چې په یوه نه یوه ډول د ژوندانه چاپېریال اغیزمن او د ژوندیو موجوداتو روغتیا له خطر سره مخامخ کوي. دری: [مواد مضرهٔ]

## مضطرب
هغه شخص دی چې له اضطراب سره مخامخ شوی وي. (اضطراب ته دې مراجعه وشي). دری:[مضطرب]

## مضمون بها
هغه مال چې د مدیون په ذمه دی او دریم شخص یا (ضامن) یې په غاړه اخلي، مضمون بها بلل کیږي.
دری:[مضمون بها]

## مضمون عنه
هغه شخص چې له ذمې څخه یې مال د بل شخص (دریم شخص) ذمې ته لیږدول کیږي.
دری:[مضمون عنه]

## مضمون له
هغه شخص چې ذمه یې د مدیون له عهدی څخه د دریم شخص عهدې ته لیږدول کیږي. دری:[مضمون له]

## مطبوع (رسمي) عریضه
د خاصې قانوني کلیشې درلودونکې ده چې د مالیې د وزارت له خوا طبع او د مستوفیتونو له لارې د قیمت په بدل کې عریضه لیکونکو او مدافع وکیلانو ته وړاندې کیږي او د قیمت لرونکو اسنادو له جملې څخه شمېرل کیږي. دری: [عریضه مطبوع (رسمی)]

## مطبوعاتي جرایم
هغه جرمونه چې شخص او یا اشخاصو ته د ورځپاڼې، مجلې او خپرونې له خوا څخه توهین او افترأ شوي وي.
دری: [جرایم مطبوعاتی]

## مطلق بطلان
هغه بطلان دی چې د هغه تاوان عمومي نظم ته رسېږي او هر څوک يې غوښتنه له محکمې څخه کولاې شي.
دری: [بطلان مطلق]

## مطلق جرم
هغه جرم چې پايلې پورې تړاو نه لري مګر په مطلق ډول د فاعل د موخې د لاسته راوړلو څخه پرته جرم وګڼل شي.
دری: [جرم مطلق]

## مطلق جرمونه
له هغو جرمونو څخه عبارت دي چې د هغو د تحقق لپاره د جرمي نتيجې حصول حتمي او لازمي ندي.
دری: [جرايم مطلق]

## مطلق دين
هر هغه څه چې د ترکې د عين پورې اړه و نه لري.
دری: [دين مطلق]

## مطلق عدالت
يو حقوقي فلسفي ټولنه چې مطلقه سزاګانې د جرم له واقع کېدو څخه د تطبيق وړ بولي. دری: [عدالت مطلق]

## مطلق عديم الاهليت
هغه شخص دی چې په هېڅ وجه د معاملاتو په انعقاد او انشأ لاس نه شي پورې کولای.
دری: [عديم الاهليت مطلق]

## مطلق عقد
هغه عقد دی چې موخه يې د مقابل لوري په تصرف اطلاق او اجازه په معقود عليه کې وي.
دری: [عقد مطلق]

## مطلق مدبر
هغه برده چې د خپل خاوند د مرګ نه وروسته آزاد شي.
دری: [مدبر مطلق]

## مطلق مضاربت
هغه دی چې په وخت، ځای، د ځانګړې معاملې په څرنګوالي او همدرانګه د پلورونکي او پيرودونکي په ټاکلو پورې مقيد نه وي. دری: [مضاربت مطلق]

## مطلق ملك
هغه ملك دی چې شخص د هغه د عيني ملکيت حق او د انتفاع د حق لرونکی وي. دری: [ملک مطلق]

## مطلق وکالت
هغه وکالت دی چې پکښې مؤکل خپل وکيل په هېڅ کوم شرط پورې نه مقيدوي. (وکالت ته دې مراجعه وشي). دری: [وکالت مطلق]

## مطلقه
د مدني حقوقو په اصطلاح کې مطلقه هغې زوجې ته ويل کېږي چې مېړه يې طلاق ورکړی وي.
دری: [مطلقه]

## مطلقه اجازه
هغې اجازې ته مطلقه ويل کيږي چې په يوې ځانګړې موضوع يا مورد کې محدوده نه وي او په شرط اېښودلو پورې هم تړلی نه وي. دری: [اذن مطلق]

## مطلقه استحاله
هغه استحاله ده چې مستحيل والی يې پخپله د شی په ذات بنا وي. دری: [استحاله مطلق]

## مطلقه بيع
په پيسو باندې د عين له بيعې څخه عبارت ده.
دری: [ بيع مطلقه]

## مطلقه حواله
هغه ده چې د محال عليه په نزد د محيل مال سپارل موجود وي او قيد شوی نه وي. دری: [حواله مطلقه]

## مطلقه سکني

هغه سکونت دی چې د قانون په حکم رامنځته شوی وي. دری: [سکنی مطلقه]

## مطلوبه لارې

هغه لارې چې د فرد او ټولنې د ښېګڼو لپاره پېژندل شوي وي. دری:[طریق مطلوب]

## مظاهر

هغه مېړه (زوج) چې خپله زوجه د ظهار په حالت کې وساتي. دری: [مظاهر]

## مظاهر منها

هغه ښځه چې د ظهار په حالت کې وي.
دری: [مظاهر منها]

## مظنون

هغه څوک چې د سوء ظن په اساس د جرم د کړنې په سبب د کشف د ارګانونو له خوا نیول شوی وي او یا دا چې د تور د نسبت ورکولو نه دمخه د هغه په هکله وقایوي اقدامات شوي وي. دری: [مظنون]

## معارض

په یوه واحده موضوع کې ددوو بیلابیلو حکمونو مخا مخ پیښېدلو ته ویل کیږي. دری: [معارض]

## معالجوي طب

له هغه علم څخه عبارت دی چه په مرضونو اخته کسانو درملنه کوي او ډېره خطیره دنده د ټولنې د صحت په برخه کې پرغاړه لري. دری: [طب معالجوی]

## معاوضوي امانت

هغه امانت دی چې د معاوض عقد په نتیجه کې منځ ته راغلی وي. (امانت ته دې مراجعه وشي).
دری: [امانت معاوضوی]

## معاینه

د جرم په محل کې د مشاهدې یا موجوده حالت ثابتول چې جرم پورې اړونـد وي او د جرم په کشفولو او د اشخاصو د حالت په تثبیت کې مرسته کوي.
دری:[معاینه]

## معتاد

هغه شخص دی چې بدن یې د مخدره موادو د پرله پسی استعمال له امله اعتیاد حاصل کړی وي. دری:[معتاد]

## معتبره برخه (سهم)

هغه برخه ده چې د پېرودلو او پلورلو لپاره په هر معتبر بورس کې منل کیږي. دری: [سهم معتبر]

## معتده

هغه ښځه چې هغه ټاکل شوی شرعي موده چې تېرول یې د طلاق او یا د هغې د مېړه له وفات څخه وروسته لازمه ده تېره کړي. دری: [معتدهٔ]

## معترض

هغه شخص دی چې د یوه شخص یا اشخاصو، رسمي مراجعو او یا محاکمو پر فعالیتونو یا اجراآتو باندې اعتراض لري. (اعتراض ته دې مراجعه وشي).
دری: [متعرض]

## معترف

هغه شخص دی چې اعتراف کوي. دری:[معترف]

## معتمد

هغه حقیقي شخص دی چې د نقدي وجې په ورکولو سره د ضمانت په نامه، پیسې او نقود د هغه په وجه کې قید او اجرأ کیږي. دری: [معتمد]

## معتوه
هغه حالت دی چې د پیښېدو پر مهال یې شخص نشي کولای ترڅو خپل حقوق او وجیبې وپیژني او سره بېل یې کړي. په دې حالت کې شخص ناقص الاهلیت شمیرل کیږي. دری:[ معتوه]

## معجل اجرت
هغه اجرت دی چې د عقد پر مهال یې د ورکړې په اړوند په بشپړه او یو ځلې توګه ژمنه شوې وي.

(اجرت ته دې مراجعه وشي). دری:[اجرت معجل]

## معجل ثمن
په سملاسي توګه د مبیعې د بدل له ورکړې څخه عبارت دی.(ثمن ته دې رجوع وشي). دری:[ثمن معجل]

## معجل دَین
هغه دین دی چې په سملاسي توګه قابل د ادا کولو وي.
دری: [دین معجل]

## معجل مهر
ټول مهر او یا د هغه یوه برخه چې د واده د عقد د انعقاد پر مهال زوجې ته ورکول کېږي، معجل مهر دی.
دری:[ مهر معجل]

## معدن (کان)
هغه معدني مواد چې تر ځمکې لاندې پیداکیږي.
دری:[معدن]

## معدودات
هغه شیان دي چې د شمېرلو وړ وي. دری:[معدودات]

## معدومه بیع
که چېرې د عقد د انعقاد په مهال مبیعه شتوالی ونلري، دا بیع معدومه ګڼل کېږي. (بیع ته دې مراجعه وشي).
دری:[بیع معدوم]

## معذور
هغه شخص ته ویل کیږي چې د طبیعي یا عارضي سببونو پر بنا د حقوقي اهلیت د لازمو شرطونو وړ نه وي چې د هغه جزائي مسوولیت تخفیف یا مرفوع ګڼل کېږي.
دری:[معذور]

## معروض علیه
هغه حقیقي یا حکمي شخص ته ویل کیږي چې عرض کوونکی ور نه شکایت ولري. دری:[معروض علیه]

## معسر
هغه شخص ته ویل کیږي چې د تنګ لاسی په حالت کې واقع وي. دری: [معسر]

## معصیت
هر هغه امر چې د شریعت د اصولو خلاف وي او د دیني لارښوونې له مخې د ګناه لامل شي. دری: [معصیت]

## معطوه
افاقي حال او د عقل درلودل. دری: [معطوه]

## معقود علیه
هغه څه ته چې عقد ور باندې منعقد کېږي یعنې د عقد موضوع ته ویل کیږي. دری: [معقود علیه]

## معقول عذر
له هغه معذرت څخه عبارت دی چې په معقولو دلایلو باندې ولاړ وي او د یو عقد د تنفیذ د رجوع په هکله د محکمې له خوا د قانون له احکامو سره سم ومنل شي.
دری: [عذر معقول]

## معکوس استحصاب الحال
د یو شي لپاره حکم کول د پخوا پربنسټ په حال کې د هغه د ثبوت له جهته پدې شرط چې د هغه د نشتوالي (عدم) دلیل موجود نه شي.
دری:[استحصاب الحال معکوس]

## معکوس استصحاب

په تېرې شوې واقعې باندې حکم کول، د هغه شي پربنسټ چې په حال زمانه کې ثابت وي.

دری: [استصحاب معکوس]

## معلق حکم په سوګند

عبارت له هغه حالت څخه دی چې مدعي قسم غایب مدعي علیه ته توجیه کوي او قاضي د غایب مدعي علیه تر حاضرېدو له حکم څخه ډډه کوي.

دری: [حکم معلق به سوګند]

## معلق طلاق

هغه طلاق چې په هغه کې د مېړه رامنځته کېدل په راتلونکې کې په کوم شرط پورې معلق او مؤکول کړي.

(طلاق ته دې مراجعه وشي). دری:[طلاق معلق]

## معلق عقد

هغه عقد دی چې د انعقاد پر مهال یې منشأ په غوښه او وروستی توګه ترلاسه نشي او انشاء یې په بل امر پورې تړلی وي.

دری:[عقد معلق]

## معلوم ارتفاق

هغه ارتفاق دی چې د هغه وجود له خارجي علایمو سره معلوم او معین وي. (ارتفاق ته دې مراجعه وشي).

دری: [ارتفاق معلوم]

## معلومات ورکوونکي اشخاص

هغه اشخاص چې کولای شي ترڅو د یوه جرمي عمل په اړوند معلومات ورکړي.

دری: [اشخاص معلومات دهنده]

## معموله اشاري

هغو متعارفو اشاروته ویل کېږي چې د هغو اشخاصو له خوا چې د طبیعي او یا غیر طبیعي عواملو له کبله د خبرو کولو توان نه لري، د عقدونو او تصرفاتو د سرته رسولو د افادې لپاره د دوی له خوا صورت نیسي او په قانوني او شرعي توګه د اعتبار وړ پېژندل کېږي.

دری: [اشاری معموله]

## معنوي (شخصي) خسارات

هغه زیان دی چې د انسان شخصیت ته صدمه رسوي.

دری: [خسارت معنوی (شخصی)]

## معنوي اجبار

هغه حالت چې فاعل د ډار او وحشت د احساس لاندې خپل اختیار له لاسه ورکړي. دری: [ اجبار معنوی]

## معنوي اکراه

هغه اکراه ده چې فشار عملاً او مادتاً شخص ته متوجه وی خو د انسان جسم، مال، او شتمنی ته متوجه نه وی بلکه د هغه حیثیت، وقار او آبرو ته تهدید وي. (اکراه ته دې مراجعه وشي). دری:[اکراه معنوی]

## معنوي تزویر

هغه تزویر چې مزور مادي او شکلي تغییر په سند کې نه راوړي بلکه د هغې په معنی او مضمون کې تغییر راوړي چې درک کېدای نشي. دری: [ تزویر معنوی]

## معنوي حقوق

له هغو حقوقو څخه عبارت دی، چې د شخص معنوي مالکیت پر یو مادي او یا معنوي پدیدې باندې ثابتوي.

دری:[حقوق معنوی]

## معنوي فعل

هر هغه عمل چې د نظر لاندې شخص باندې د جرم په ارتکاب کې اغېزمن وي او د جرمي نتیجې پایله وي معنوي فعل نومیږي. دری:[فعل معنوی]

## معنوي مباشر

هغه شخص دی چې د عقل له مخې د جرم ارتکاب ورته منتسب وي. دری:[مباشر معنوی]

## معنوی جزاګانې

هغه جزاګانی دي، چې د انسان پر روح او معنویاتو اثر پرې باسي. دری: [مجازات معنوی]

## معنوی غلا

د نورو د آثارو او لیکنو نسبت ورکول دي خپل ځان یا بل چاته. دری:[سرقت معنوی]

## معوض عقد

هغه عقد دی چې په هغه کې د عقد هره یوه خوا له مقابل لوري څخه یو څه ترلاسه کوي.
دری:[عقد معوض]

## معین قصد

له هغه قصد څخه عبارت دی چې فاعل پر یوه معین شخص د تیري قصد ولري. دری: [قصد معین]

## معیر (عاریت ورکوونکی)

هغه شخص دی چې کوم مال د عاریت په توګه ورکوي.
دری: معیر(عاریت دهنده)]

## معین (جزایی)

له هغه شخص څخه عبارت دی چې د راهزنی د جرم د ارتکاب په وخت کې حاضر وي ولو که دی د فعل مرتکب نشي. دری: [معین (جزایی)]

## معینه لورې باندې وصیت

هغه وصیت دی چې د هغه د موضوع استفاده کول د یو ځانګړي لوري دپاره ټاکل شوی وي.
دری: [وصیت به جهت معینه]

## معینه ورثه

هغه ورثه ده چې د موصي له خوا د وصیت په مهال د هغې ورثې لپاره چې وصیت ورته کوي له سهم سره سم د وصیت د اندازې د تعینولو لپاره ځانګړې شوې وي.
دری: [ورثه معینه]

## معیوب حیازت

هغه حیازت دی چې د هغه د پلی کولو په ډول کې کوم عیب شتون ولري. دری: [حیازت معیوب]

## معیوب شیان

هغه اجناس او سامانونه دي چې د هغو میعاد او دوام د صدمې له مخې لنډ او یا له منځه تللی وي.
دری:[اجناس معیوب]

## مغشوشه شیان

هغه شیان چې په هغو کې غش صورت موندلی وي.
دری:[ اشیا مغشوشه]

## مغصوب منه

هغه شخص چې مال یې په ښکاره ډول له قانوني اجازې پرته د بل چا له خوا تصرف شي. دری:[مغصوب منه]

## مغصوبه مال

عبارت له هغه مال څخه دی چې د غصب لاندې راغلی وي. (غصب ته دې مراجعه وشي). دری:[مال مغصوبه]

## مغلق جرمونه

هغه جرمونه دي چې تحقق یې د داسې زیاتو شرطونو او عناصرو مستلزم وي چې له دغه عناصرو څخه د یو عنصر د نشتوالي له امله جرم تحقق نه مومي.
دری:[جرایم مغلق]

## مفاوضه شرکت

هغه شرکت چې ټول شریکان په تصرف، پانګه، ګټه او تاوان کې یو له بل سره یو شان وي.
دری:[شرکت مفاوضه]

## مفتري
هغه شخص دی چې و بل شخص ته د واقعیت خلاف د یو امر نسبت او افترأ کوي. (افترا ته دې مراجعه وشي).
دری:[مفتری]

## مفرزه حصه
هغه معینه برخه ده چې په رضایي توګه او یا د محکمې د حکم پر بنسټ د متروکه ملك په نتیجه کې د یو شخص لپاره ټاکلی شوې وي. دری: [حصه مفرزه]

## مفروز
له هغه ټاکل شوي عین څخه عبارت دی چې هغه ټول په یو مالك پورې اړه ولري. دری:[ مفروز]

## مفضل
هغه شخص دی چې د خپلو کارونو په ګټې کې پاملرنه ونلري. دری:[مفضل]

## مفعول
پر هغه شخص اطلاق کیږي چې د فعل محل ګرځېدلی وي. (فعل ته دې مراجعه وشي). دری:[مفعول]

## مفقود
له هغه شخص څخه عبارت دی چې د نامعلوم علت له کبله د خپل دایمي استوګنځي څخه د اوږدې مودې را پدې لا درک شوی وي او د هغې د مړي او ژوندانه هیڅ پته نه وي.

(غایب ته دې مراجعه وشي) دری: [مفقود]

## مفقود الاثر
هغه کس چې د خپل ټاټوبي څخه له ډیرې مودې لېرې شوی وي او د هغې کورنی او خپلوانو ته د ژوند او مړي خبرنه وي رسیدلی. دری: [مفقود الاثر]

## مفلس کفیل
هغه شخص دی چی د مفلس مدیون کفالت کوي.
دری: [کفیل مفلس]

## مفلس مدیون
چې پرخپله ذمه د دین د ورکړې توان و نه لري.
دری: [مدیون مفلس]

## مفوضه صلاحیت
هرهغه قانوني او شرعي واک چې په عامه او یا خاصه توګه د عقدونو او تصرفاتو د سرته رسولو په موخه د کامل اهلیت لرونکو اشخاصو له خوا نورو اشخاصو ته تفویض شوي وي. دری: [صلاحیت مفوضه]

## مقابله
د یو متهم د بل متهم یا د متهم او شاهدانو ترمینځ مخامخ کېدل دي چې د قضا په وړاندې د یو بل د اظهاراتو د رد یا تایید په موخه صورت مومي. دری: [مقابله]

## مقاطعات
له هغو موافقو څخه عبارت دی چې د مالي مقاماتو او مؤدي (مالیه ورکوونکي) ترمنځ د مالیې وړ شي د ارزښت د ټاکلو لپاره د یوې معینې مودې لپاره وي.
دری:[مقاطعات]

## مقاوله
هغه حقوقي ژمنه ده چې پکښې د حق یا وجیبې د رامنځته کېدو، لیږدونې، بدلون او یا اسقاط په منظور د دوو یا څو ارادو موافقه ترسره شوې وي. دری:[مقاوله]

## مقایضه
د بیعې د عقد هغه یو ډول دی چې د هغې په لړ کې جنس د جنس په مقابل کې تر معاملې لاندې راځي.
دری: [مقایضه]

## مقبول الشهاده
هغه شاهد دی چې د شهادت له ټولو شرطونو څخه برخمن او شهادت یې د محکمې په وړاندې د منلو وړ وي. دری:[مقبول الشهادة]

## مقترن
د یو عقد د انعقاد په موضوع کې د هر یو امر لکه شرط، خیار او یا هر ډول بل تعهد یوځای کېدلوته ویل کېږي. دری: [مقترن]

## مقتضی شرط
هغه شرط چې د عقد له مقتضا او یا د هغه د مقام له ټینګار سره سمون ولري او یا داچې شرعي رامنځته کړی وي او یا یې هم په عرف کې رواج مونـدلی وي. دری: [شرط مقتضی]

## مقدر ارش
د هغه مال ورکول دي چې اندازه ئې شارع تعیین کړي وي. دری: [ارش مقدر]

## مقدور التسلیم شی
هر هغه شی دی چې په یو عقد د تملیک اعیان او یا منافع د هغه د تسلیم دهی وړتیا د مشتری لپاره شون وي. دری: [شی مقدور التسلیم]

## مقدور التسلیم قیمت
هغه قیمت چې د هغه ورکړه د عاقد په توان کې وي. دری: [قیمت مقدورالتسلیم]

## مقدورات
هغه شیان دي چې اندازه یې د پیمانې، وزن، شمېر او ذرع (ګز) په واسطه ټاکل کېږي. دری:[مقدورات]

## مقر
هغه شخص چې د محکمې په وړاندې پرځان باندې د بل چا د حق د شتوالي اقرار وکړي. دری:[مقر]

## مقر به
هغه مال یا حق دی چې مقر یې د شتوالي په اړه د بل چا لپاره او د خپل ځان په زیان اقرار کوي. دری:[مقر به]

## مقرره
هغه مقررات دي چې د دولت د یوې قوې له خوا وضع کېږي او د اجراء وړ دي. دری: [مقررة]

## مقرله
هغه شخص چې د محکمې په وړاندې یې په ګټه اقرار سرته رسېدلی وي. دری:[مقرله]

## مقرون
له یو بل حقوقي امر او موضوع سره د یو امر او موضوع یو ځای کېدل دی. دری: [مقرون]

## مقطوع علیه
هغه شخص دی چې کوم غړی ئې غوڅ کړی شوی وي او داغوځوالی دده پرلاس یا پښه یا دواړو باندې ترسره شوی وي. دری: [مقطوع علیه]

## مقنعه اعذار
هغه عذرونه دي چې د منطقي او معقولو دلایلو پر بنسټ ولاړ او د محکمې له خوا منل شوي وي او د تاوان د ورکړې په برخه کې د له منځه وړلو او یا د کمښت راوړلو د اثراتو لرونکي وي. دری: [اعذار مقنعه]

## مقید جرم
هغه جرم چې تام حالت یې د قانون جوړوونکي د پایلې د تحقق سره اړینه وي. دری:[جرم مقید]

## مقید جرمونه
له هغو جرمونو څخه عبارت دي چې د هغو د تحقق لپاره د جرمي نتیجې حصول حتمي او لازمي ګڼل کېږي. دری:[جرایم مقید]

## مقید عقد

هغه عقد دی چې موخه يې د مقابل لوري د تصرف منع او يا محدود والی وي. دری:[عقد مقید]

## مقید مضاربت

هغه دی چې يو له هغو شرطونو لکه وخت، ځای او د معاملې په څرنګوالي پورې مقید وي. دری:[مضاربت مقید]

## مقیده اجازه

هغې اجازې ته ويل کيږي چې په يوه ځانګړې موضوع او يا مورد پورې محدوده وي او له شرط ايښودلو سره هم تړلې وي. دری:[اذن مقید]

## مقیده حواله

هغه حواله ده چې د هغې ورکړه يوائې د حواله شوی شخص پر ذمه اجرا کيږي. دری: [حواله مقیده]

## مقیده وکالت

هغه وکالت دی چې وکيل د يو خاص عمل په انجامولو مقيد وي. (وکالت ته دې مراجعه وشي).
دری:[وکالت مقیده]

## مکافات

يو شخص ته مادي او يا معنوي پاداش دی چې د حقيقي او يا حکمي شخص له خوا بل شخص ته صورت ونيسي.
دری: [مکافات]

## مکافات گرایی (سزا غوښتنه)

يو حقوقي، فلسفي مکتب چې د ارتکاب شويو جرمونو سزا د تېرې زمانې زيږنده بولي دری: [مکافات گرایی]

## مکاني ګټه

د ګټو له هغه وېش څخه عبارت ده چې شريکان د ګټو په وېش کښې موافقه کوي چه هر يو به د مال د ګټو له ټاکلې برخې څخه د شريک مال د خپلې برخې ګټه اخلي. دری:[منافع مکانی]

## مکتسبه حقوق

هغه حقوق دي چې تر ټاکليو قانوني شرايطو لاندې د هغو د څښتن له خوا لاس ته راغلي وي.
دری:[حقوق مکتسبه]

## مکرر جرمونه

هغه جرمونه دي چې مادي رکن يې د مجرم د څو پر له پسې اعمالو څخه جوړ شوي وي. دری:[جرایم مکرر]

## مکروه عقد

هغه عقد چې اصلاً او وصفاً مشروع ولې د عارضي حالت له امله موقتاً ممنوع دی. دری: [عقد مکروه]

## مکرَه

هغه شخص دی چې د کوم بل شخص يا اشخاصو له خوا تر اکراه لاندې راوستل شوی وي او د هغه د ارادې د معيوبېدو لامل شي. دری:[مکرَه]

## مُکرَه

هغه شخص ته ويل کيږي چې د يو امر په کولو يا نه کولو باندې مجبور ګرځول شوی وي. دری: [مکره]

## مکشوف

د هغو شيانو او يا ځمکو د ښکاره کېدلو او بربنډ کېدلو په مفهوم دی چې مخکې د طبيعي عواملو پر بنسټ د ليدلو وړ نه وي. دری:[مکشوف]

## مکفول

هغه شخص دی چې حاضرول يې د عقد د يوه لوري لخوا تعهد شوی وي. دری:[ مکفول]

## مکفول به

هغو حقوقو او اموالو ته وايي چې کفيل د هغه په ادأ کولو او تسليمولو کې تعهد وکړي. دری:[مکفول به]

## مکفول له

هغه شخص چې د عقد پر مهال یې مقابل لوری د دریم شخص د حاضرولو تعهد کوي، مکفول له بلل کېږي.
دری:[مکفول له]

## مکلف

هغه شخص دی چې د ټاکلي عمل په ترسره کولو یا نه کولو ملزم وي. (تکلیف ته دې مراجعه وشي).
دری: [مکلف]

## مکیلات

هغه شیان چې اندازه یې په پیمانه باندې ټاکل کېږي.
دری: [مکیلات]

## ملاتړ

د مالي بشري سرچینو، استوګنځي، زده کړې او مخابراتي تجهیزاتو او نورو منابعو آسانتیاوې. دری: [حمایت]

## ملاصق جار

هغه همسایه دی چې د هغه ملکیت د یو او یا څو لورو څخه د بل شخص له ملکیت سره نښلول شوی وي.
دری: [جار ملاصق]

## ملاك تصرف

هغه تصرف چې په هغې کې یوازې د ملك خاوند کولای شي. دری:[ تصرف الملاک]

## ملالت

هغه حالت چې په هغه کې شخص د خپلو وجیبو او مالي مکلفیتونو د ادا او ترسره کولو توانائي ونلري.
دری: [ ملالت]

## ملزمه شهود

هغه شاهدان چې د هغوې شتون په یو مسئله کې لازمي او ضروري ګڼل شوی وي. دری:[شهود ملزمه]

## ملك

هر هغه څه چې انسان یې خاوند ګرځېدلی دی که د اعیانو له ډلې وي او یا که ګټې وي. دری: [ملک]

## ملك په سبب

هغه ملك چې د ملك د اسبابو څخه پر یوه مقید شوی وي. دری:[ ملک به سبب]

## ملکي خدمتونه

د دولت اجرائیوي او اداري فعالیتونه چې د ملکي خدمتونو د کار کوونکو په واسطه وړاندې کېږي.
دری: [خدمات ملکی]

## ملکیت

هغه حق دی چې په مقتضایې یو شی د شخص تر ارادې او تسلط لاندې راځي او یوازې یې څښتن کولای شي تر څو د قانون له حکمونو سره سم د هغه په کارونه، ګټه اخیستنه او هر راز مالکانه تصرف لاس پورې کړي.
دری:[ملکیت]

## ملمع کول

هغه فزیکي فعالیت چې له کیمیاوي موادو څخه په کار اخیستنې سره نقدې پیسې خپله بڼه بدلوي.
دری: [ملمع کردن]

## ملي حاکمیت

هغه ته ویل کېږي چې خلك له قانوني لارو چارو د دولت په حاکمیت کې شاملېږي. (حاکمیت ته دې مراجعه وشي). دری: [حاکمیت ملی]

## ملي شورا

د افغانستان د پارلمان مجلسینو ته ویل کېږي چې د خلکو د ارادې مظهر او له ټول ملت څخه استازي توب کوي.
دری:[شورای ملی]

## ملي ګټې
د اقتصادي، سیاسي، ټولنیزو او نورو ګټو څخه عبارت دي چې یو ملت په خپله ټاکلي جغرافیایي حوزه کې د هغو د لاس ته راوړلو، تحقق او اعمال لپاره هڅه کوي.
دری:[منافع ملی]

## ملی آثار
هغه دودیز، تاریخي او لرغوني آثار دي چې د تاریخي دورو په ترڅ کې منځ ته راغلي که هغه منقول وي یا غیر منقول.
دری: [آثار ملی]

## ملی خیانت
هغه قصدي عملونه دي چې د یوه هېواد تبعه، د هېواد د حاکمیت، صیانت، ځمکنی بشپړتیا او ملی امنیت پرضد د ورانکارئ فعالیتونه سرته رسولي وي. دری:[خیانت ملی]

## ممتنع
هغه شخص چې د یو کار د سرته رسولو او یا د یو حق د ادا کولو څخه ډډه وکړي. دری : [ممتنع]

## ممتنع رای
چې د رای د حق لرونکی شخص د هیڅ یو شخص د تقرر او یا د هیڅ یو عمل د پلې کولو په اړه چې انتخابات د هغې لپاره پیل شوی وي مثبته یا منفي رای ورنه کړي. دری:[رای ممتنع]

## مملوکه اراضي
د شخص تر ملکیت لاندې ځمکې.
دری :[مملوکه اراضی]

## ممنوع الخروج
هغه شخص دی چې د محکمې یا نورو واکمنو ځایونو له خوا د حکم له مخې یې د جنایي او یا سیاسي جرم د ارتکاب په خاطر د یوه ټاکلي هېواد څخه د وتلو حق سلب شوی وي. دری:[ممنوع الخروج]

## ممنوع سبب
هغه سبب دی چې اساس او بنسټ یې په فساد منتج کیږي. دری:[سبب ممنوع]

## ممنوعه سیمې
هغه سیمې او ساحې دي چې دولت په هغو کې د ژویو له ژوندانه او د هغو د ژوند د چاپېریال نه هر راز ګټه اخیستنه منع کړې وي. دری:[مناطق ممنوعه]

## ممیز صغیر
هغه شخص چې وکولای شي د معاملو د ترسره کولو پر مهال، خپله ګټه او تاوان وپیژني ممیز صغیر بلل کیږي. په بل عبارت ممیز صغیر هغه طفل دی چې معاملې یې د معمول عرف له مخې د اعتبار وړ دي. دری:[صغیرممیز]

## ممیز طفل
هغه شخص دی چې د اوه کلنی عمر یې بشپړ کړی وي او د دولس کلنئ عمر یې نه وي بشپړ کړی. دری:[طفل ممیز]

## ممیز معتوه
له هغه ناقص اهلیت لرونکي شخص څخه عبارت دی چې د ملکیت د ثبوت په برخه کې د هغه د عقدونو تنفیذ د هغه شخص اجازې ته چې د صلاحیت لرونکی دی موقوف وي. دری: [معتوه ممیز]

## ممیز مقرله
هغه ماشوم چې د اوه کلنی عمر ته شامل او د هغه په ګټه اقرار شوی وي. دری: [مقرله ممیز]

## منازعه
د دوو خواوو په مینځ کې له حقیقي او حکمي اشخاصو سره، د یو شي او یا حق د اثبات تصاحب او تملك په شمول د دیني، عیني او جزایي حقوقو څخه، کشمکش او جنجال ته ویل کیږي. دری: [منازعه]

## مناسخه

د میراث هغه قاعده چې له مخې يې د متوفینو د شمیر د زیاتوالي په صورت کې د هر یو وارث د میراث سهم ټاکل کیږي. دری: [مناسخه]

## منافي

د یو امر د ضدیت او مخالف واقع کېدلو په معنی دی.
دری: [منافی]

## مناقصه

د دولت د رسمي مامور له خوا د ټاکلي مال یا مالونو پېرودل دي تر ټولو په ټيټه بيه چې د پلورونکو له خوا يې ورته وړاندیز کیږي، مناقصه بلل کیږي. دری:[مناقصه]

## منتقل الیه

هغه شخص ته ویل کیږي چې د عقد پر مهال مال ورته لیږدول کیږي. دری:[منتقل الیه]

## منتقل عنه

هغه شخص چې د عقد پر مهال کوم مال بل چاته لیږدوي. دری:[منتقل عنه]

## منتهب (غارتګر)

هغه شخص چې د وسلې په مرسته د بل چا مال، اخلي او تښتي. دری: [منتهب (غارتگر)]

## منجز (قطعي) طلاق

هغه طلاق دی چې په هېڅ شرط پورې معلق نه وي او هم راتلونکي زمانې ته نسبت ورنه کړل شي، بلکې اوس مهال او غوخ وي. (طلاق ته دې مراجعه وشي).
دری:[طلاق منجز(قطعی)]

## منجز عقد

هغه عقد دی چې د انشاء پر بنسټ يې اغیزه په بل امر پورې تړلې نه وي. دری:[عقد منجز]

## منجزه اجاره

هغه اجاره ده چې د عقد د انعقاد له مهاله د اعتبار وړ ګڼل کیږي. (اجارې ته دې مراجعه و شي).
دری:[اجارهٔ منجزه]

## منجزه کفالت

هغه کفالت دی چې یو شرط پورې معلق نه وي او د آینده وخت (زمان) پورې اړه ونلري.
دری:[کفالت منجزه]

## منشور

هغه اعلامیه چې ډلې یا هېوادونه هغه لاسلیک کړي او پلې کول يې لازم دي. دری: [منشور]

## منصوبه منقولات

هغه منقول شیان چې ځمکې باندې نصب شوي وي.
دری: [منقولات منصوبه]

## منطقي تفسیر

د هدف او منظور پیداکول دي د نورو قانوني موادو په وسیله. دری: [تفسیر منطقی]

## منظوري

د کس یا کسانو لپاره د شي په نظر کې نیول او یا تعیینول. دری: [منظوری]

## منع شوي شیان

هغه شیان او مالونه دي چې د قانون د حکمونو له مخې يې وړل راوړل او کارونه منع وي. دری:[اشیای ممنوع]

## منعقده بیع

له هغې بیعې څخه عبارت ده چې د ایجاب او قبول له مخې منعقده شوې وي. (بیع ته دې مراجعه وشي).
دری:[بیع منعقده]

## منفجره مواد

له هغو مـوادو څخـه عبـارت دي چـې د خپلـو کيميـاوي خواصو مطـابق د فشـار، حـرارت، اصـطکاک، ضـربې او شعلې له امله د چاودنې باعث کيږي.
دری: [مواد منفجره]

## منفذ الوصيه

هغه چاته ويل کيږي چې د يوه وصيت ليـک د مطلبونـو په ترسره کولو مامور وي. (وصيت ته دې مراجعه وشي).
دری: [منفذ الوصیه]

## منفرد خصم

هغـه خصـم چـې د بـل حضـور تـه محتـاج نـه وي.
دری:[خصم منفرد]

## منفصله ګټې

هغه حاصل يا ثمرې دي چې له حقوقي او يا مادي لحاظه د عين د جلا کولو وړتيا ولري. دری:[منافع منفصله]

## منفق

هغه صـفت دی چـې يـو شـخص د قـانون او شـريعت لـه مخې د نفقې تامينول په غاړه ولري. دری:[منفق]

## منفلقه توکي

هغه کيمياوي مواد دي چې د له منځه وړلو او خرابولو په مقصد کارول کيږي. دری:[مواد منفلقه]

## منفي تکليف

هغـه عمـل دی چـې مکلـف بايـد هغـه ترسـره نکـړي. (تکليف ته دې مراجعه وشي). دری: [تکلیف منفی]

## منقضي

د يوې امر پای ته د رسېدلو په ګډون د يـو قـول، فعـل د عقـد مرتبـه اثـر او پـه قـانوني توګـه د عـدلي او قضـايي مراجعو د حکم د ميعاد اجراآت. دری: [منقضی]

## منقله

هغه عمل دی چې هډوکي مات کړي سره لـه دې چـې کوم جراحت يې مينځ ته نه وي راوړی. دری: [منقله]

## منقوضه حکم

د نقض د اسبابو له مخې د لوړې محکمې له خوا د ټيټـې محکمې د حکم نقض ته وايي. دری: [ حکم منقوضه]

## منقول

د مـاحول شـيان چـې د انتقـال وړ وي او د هغـو ذات تـه زيان و نه رسيږي. دری:[منقول]

## منقول اموال

کوم مالونه چې د هغو انتقال له يو ځای څخه بل ځای ته پرته له تغيير شونی وي او د انتقال پـه وخـت کـې د هغـه ماهيت ته نقصان و نه رسيږي. دری: [اموال منقول]

## منقول مباح مال

هغه مباح مال چې له يوه ځای څخه بل ځای ته، پرتـه لـه دې چې پـه ماهيـت کـې يـې بـدلون راشـي، د ليږدونـې راليږدونې وړتيا ولري. دری: [مال منقول مباح]

## منقول مشاع مال

هغه مشاع مال چې پرته له دې چې پـه ماهيـت کـې يـې بدلون رامنځته شي، لـه يـوه ځـای څخـه بـل ځـای تـه د ليږدونې راليږدونې وړتيا ولري. دری: [مال مشاع منقول]

## منقوله دعوی

هغه دعوی ده چې موضوع يې د منقول مال لاسته راوړل او پـه هغـه پـورې د مربوطـو حقوقـو لاسـته راوړل وي.
دری: [دعوی منقول]

## منقوله ګروي

د هغه مال ګروول چې له يوه ځای څخه بـل ځـای تـه د ليږدونې راليږدونې وړ وي. دری: [ رهن منقول]

## منکر

هغه شخص ته ویل کیږي چې د یو حق له شتون او یا د یو فعل او یا عمل د ویلو څخه انکار وکړي.
دری: [منکر]

## منکوب

د امنیتي او یا پاڅون ضد ځواکونو له خوا د هر راز پاڅون ډوله حرکت ځپل دي. دری:[منکوب]

## منهوبه شیان

هغه شیان دي چې په زور او عنف سره اخیستل کېږي.
دری: [اشیاء منهوبه]

## مؤبد وصیت

هغه وصیت دی چې د هغه استفاده په ابدي توګه د موصي له لپاره صورت ونیسی. دری: [وصیت مؤبد]

## مؤثر تابعیت

هغه تابعیت ته ویل کیږي چې د یو شخص د څو تابعیتونو له منځه د قاضي له خوا یو تابعیت ته یې ترجیح ورکول کیږي. او د همدې تابعیت په اساس د تطبیق وړ قانون اساس ټاکل کیږي. دری:[تابعیت مؤثر]

## مؤجد أثر

د هغې نتیجې په معنی دی چې د یوه حق د رامینځ ته کېدو لامل شي. دری: [اثر مؤجد]

## مؤجر

هغه شخص چې د مأجور مال یې په اجاره ورکړی وي.(مأجور ته دې مراجعه وشي). دری: [مؤجر]

## مؤجل اجرت

هغه اجرت چې ورکړه یې په ټاکلي وخت شرط شوی وي. (اجرت ته دې مراجعه وشي). دری:[اجرت مؤجل]

## مؤجل ثمن

په ټاکليو وختونو کې په اقساطو باندې د مبیعې د بدل ورکړې ته، مؤجل ثمن ویل کیږي. (ثمن ته دې مراجعه وشي). دری:[ثمن مؤجل]

## مؤجل حق

هغه حق دی چې له ټاکلې مودې وروسته د استعمال وړ ګرځي. دری: [حق مؤجل]

## مؤجل دین

له هغه دین څخه عبارت دی چې د ټاکلي وخت له رسېدو د مخه د تادیې وړ نه دی. دری:[دین مؤجل]

## مؤجل کفالت

په یوه ټاکلي راتلونکي موده کې د هغه چا حاضرول دی د مکفول له لپاره چې د کفالت مورد ګرځېدلی دی.
دری:[کفالت مؤجل]

## مؤجل مهر

له هغه مهر څخه عبارت دی چې د دواړو خواوو تر موافقې او تر ټاکلو وروسته یې، ورکړه په راتلونکي کې زوجې ته تعهد شي. دری:[مهر مؤجل]

## مؤجه عذر

هغه معذرت دی چې د منلو وړ وي. دری: [عذر مؤجه]

## مؤسس

هغه شخص چې د یوه سازمان، کار، شرکت یا یوې ډلې په جوړولو پدې منظور چې هدف یې دوام ومومي، لاس پورې کړي، مؤسس پېژندل کیږي. دری: [مؤسس]

## مؤقت اذن

هغه اجازه ده چې د ټاکلې مودې لپاره یې صورت موندلی وي. دری:[ اذن مؤقت]

## مؤقت حق

هغه حق دی چې په زمان باندې مقید وي.

دری: [حق مؤقت]

## مؤقت وصی

له هغه وصي څخه عبارت دی چې د حالاتو او په قانون کې د وړاندیز شویو خاصو شرایطو د تقاضا سره سم د محکمې له خوا د یوه معین حقوقي تصرف د سرته رسولو لپاره د یوې مشخصې مودې لپاره ټاکل کېږي.

دری: [وصی مؤقت]

## مؤقت وصیت

هغه وصیت چې موصي د موصی به د ګټې اخیستلو وخت په یوې ټاکلې مودې پورې محدود کړی وي.

دری: [وصیت مؤقت]

## مؤقته آزادي

له هغې محدودې آزادۍ څخه عبارت دی چې د با صلاحیته محکمې د حکم پر بنسټ د قانوني حکمونو مطابق محکوم ته ورکول کیږي او د سلب وړ وي.

دری:[آزادی موقت]

## مؤقته پناه ورکونه

په محبس او یا توقیف خانو کې، د هغو اشخاصو مؤقتي ساتنه ده چې د جدي خطر تر تهدید لاندې وي او جسمي سلامتي ته ئې خطر وي.

دری: [پناه دادن مؤقت]

## مؤقتي خوشې کول

داسې خوشې کول دی چې د څارنوال په امر په مؤقت ډول صورت مومي. دری:[رهایی مؤقت]

## مؤکد ضرر

هغه ضرر چې په یقین سره ثابت وي او حتمي واقع شوی وي او محتمل الوقوع نه وي. دری: [ضرر مؤکد]

## مؤکل

هغه شخص چې بل ته د یوه امر یا امرونو د ترسره کولو په اړه وکالت ورکوي. دری:[مؤکل]

## مؤکل به

د وکالت موضوع ده. (وکالت ته دې مراجعه وشي).

دری:[مؤکل به]

## موات بالعرض

هغه ځمکه ده چې وروسته له احیا څخه د اعراض او د نه کرلو په واسطه ویجاړه او مړه شوې وي.

دری:[موات بالعرض]

## مواثبت

په سریع توګه د یو کلام افاده کولو او یا غوښتنې ته وایې چې د شفعې د حق پورې د شفیع له خوا ویل کیږي. دری:[مواثبت]

## مواعید

د میعاد او وعدې جمعي او میعاد د وخت ټاکلو معنی لري. دری:[مواعید]

## موافقتنامه

هغه ژمنه ده چې د یوه تجارتي، فرهنګي، سیاسي او حقوقي قرارداد د دواړو خواوو توافق، د حقیقي او یا حکمي شخصیتونو په کچه پرې شوي وي او د طرفینو لپاره ځیني الزامات رامینځته کړي. دری: [موافقتنامه]

## موجبه پخواني اسباب

هغه اسبابونه دي چې له پخوا څخه شتون ولري او د یو حق په اثباتولو کې د الزام توان ولري او د یو تصرف د سرته رسولو سبب کېدلای شي.

دری: [اسباب موجبه سابقه]

## موجه عذر

هغه عذر دی چې د محکمې د منلو وړ وګرځي.

دری: [عذر مؤجه]

## موجه مجازات
هغه مجازات چې د ذیصلاح محکمو څخه د قانون د نص پر بنسټ اعمال او د حکم ور ګرځېدلي وي.
دری: [مجازات موجه]

## مودي الیه
هغه شخص دی چې پیسې ورکول کیږي.
دری: [مودی الیه]

## مورث
هغه شخص دی چې مال ورڅخه په میراث وړل کېږي.
دری:[مورث]

## مورنی ورور
هغه ورور دی چې له متوفی سره له یوه مور څخه وی.
(پلار ورور ته دې مراجعه وشي). دری:[برادر مادری]

## موروث
هغه شیانو ته ویل کیږي چې له متوفی څخه په میراث وړل کیږي. دری: [موروث]

## موزونات
هغه شیان دي چې په وزن تبادله کیږي. دری:[موزونات]

## موسر
هغه شخص ته ویل کېږي چې له ښه اقتصادي حالت څخه برخوردار وي، او سر بېره پر خپل ځان، د قانون له حکمونو سره سم د نورو د نفقې د اداء کولو توان هم ولري. دری: [موسر]

## موسمي بازار
هغه بازار چې په مرتب ډول اما له منظمو وقفو سره په هغې کې معاملې ترسره کیږي دې ډول بازار ته «مکاره بازار» هم وایي. دری: [بازار موسمی]

## موصي
هغه شخص ته ویل کیږي چې د تملیکي وصیت له مخې د خپلو مالونو له جملې څخه یوه برخه او یا هم د هغې ګټه تر خپل مرګ وروسته بل ته تملیک کړي. (وصیت ته دې رجوع وشي) دری:[موصی]

## موصي الیه
هغه شخص دی چې د عهدي وصیت په موجب، د ټاکلي امر یا امرونو په سرته رسولو مامور شوی وي.
دری:[موصی الیه]

## موصي به
وصیت شوی شي دی. (وصیت ته دې رجوع وشي).
دری:[موصی به]

## موضحه
هغه جراحت دی چې له غوښې څخه تېر شي او هډوکې ښکاره شي. دری: [موضحه]

## موضوعي (حوزوي) صلاحیت
هغه صلاحیت دی چې محکمې ئې د ځای یا محل د قانون د احکامو له مخی لري.
دری: [صلاحیت موضعی (حوزوی)]

## موضوعي (متني) دفاع
موضوعي (متني) دفاع له هغې ډول دفاع څخه عبارت ده چې مدعي علیه ته وس ورکوي ترڅو د مدعي اصلي دعوی له منځه یوسي. دری: [دفاع موضوعی (متنی)]

## موضوعي اشتباه
په موضوع کې اشتباه او تېر وتنه ده لکه د بل شخص د مال اخیستل او پورته کول پدې تصور چې د شخص خپل مال دی. دری: [اشتباه موضوعی]

## موضوعي جزائي قوانين
هغه قوانين دي چې مجرمانه اعمال، د هغو د تحقيق شرطونه او د افرادو د جزايي مسوولیت جزاګانې تنظيموي. دری: [قوانين جزائی موضوعی]

## موضوعي شبهه
شخص پوهيږي چې عمل جرم دی او د هغې لپاره جزا ټاکل شوی اما د هغې موضوع ورته مشتبه شوی وي، او تصور کوي چې فعل ورته جايز دی. (شبهی ته دې مراجعه وشي). دری: [شبهه موضوعی]

## موضوعي شرايط
هغه شرطونه دي چې د یو عقد یا عقد د ماهيت د پلی کېدلو لپاره په قانوني يا شرعي يا عرفي ډوګه وضع شوی وي. دری: [شرايط موضوعی]

## موضوعي شرطونه
هغه شرطونه چې د تحقق پرته ئې عقد نه منعقد کېږي. دری: [شروط موضوعی]

## موضوعي صلاحيت
هغه صلاحيت دی چې محکمې يې د موضوع د ماهيت له مخې د قانون له احکامو سره لري. دری: [صلاحيت موضوعی]

## موقوف تصرف
هغه ډول تصرف دی چې د هغه نافذ کېدل د هغه چا له اجازې پورې متوقف وي چې په شرعي او قانوني توګه د هغه د تنفيذ واک لري. دری:[تصرف موقوف]

## موقوف عقد
هغه عقد ته ويل کېږي چې تنفيذ يې د هغه شخص د منلو او يا نه منلو پورې اړه ولري کوم چې په قانوني او شرعي توګه د هغې د انعقاد واک لري نه هغه څوک چې مباشرتاً ئې (مستقيماً) هغه عقد ترسره کړی وي. دری: [عقد موقوف]

## موقوف عليه
هغه شخص دی چې له موقوفه مال څخه د قانون له حکم سره سم د ګټې اخيستنې واک ولري. (وقف ته دې رجوع وشي). دری:[موقوف عليه]

## موقوف مالونه
هغه ډول مال ته ويل کېږي چې مشخص او معين مالک ونه لري بلکه د خيريه چارو او تبرع په ډول او يا هم د عوامو د استفادې لپاره، د استفادې او يا ګټې اخيستلو لاندې وي. دری: [اموال موقوف]

## موقوفه بيع
هغه عقد دی چې نفاذ يې په آينده باندې موکول وي. دری:[بيع موقوفه]

## مونوګامي
له يوې ښځې سره واده کول. دری:[ مونوګامی]

## موهن جزاګانې
هغه جزاګانې دي چې د مرتکب شخص د تحقير او توهين په موخه تطبيق او مقصد يې د نورو زيات ترهيبول دي. دری:[مجازات موهن]

## موهوب له
هغه شخص چې ورته د واهب له خوا بې بدله او ځينې وخت هم د بدل په وړاندې مال تمليک شي، موهوب له دی. دری:[موهوب له]

## موهوبه
بې بدله مال او يا هم ځينې وخت د بدل په وړاندې چې د واهب له خوا موهوب لهُ ته تمليک کېږي. دری:[موهوبه]

## موهوبه عين
له هغه مال څخه عبارت دی چې بخشش شوی وي. دری: [عين موهوبه]

## مهایاة
د ګټو وېشلو ته ویل کیږي. دری:[ مهایاة]

## مهبل
له هغه کانال څخه عبارت دی چې د شا لـه خـوا رحـم سره نښتی دی او یو باندیني سوری لري چې دوه ورې او دوه سترې شـونډې لـري او د مهبـل سـوری د بکـارت د پـردې پـه واسـطه پـه جزئـي صـورت سـره بنـد، وي. دری: [مهبل]

## مهدور الدم
هغه شخص دی چې مرګ یې شـرعاً او قانونـاً مجاز وي که چیرې د بل شخص لـه خـوا پـه قتـل ورسـي قاتـل نـه قصاصیږي. دری:[مهدور الدم]

## مهدوم
هغه شی چې د یـوه شـخص لـه خـوا چپـه یـا خرابیږي. دری: [مهدوم]

## مهر
هغه مالونه، نقـود او خدمتونـه دي چې زوجې تـه یې د زوج لخوا په عاجل او یا مؤجل ډول ورکـول هغـه مهالل لازمیږي، چې زوجه یې تر صـحیح نکـاح لانـدې راشي. دری:[مهر]

## مُهر
هغه وسیله ده چې پـه عـادي توګـه د حقیقـي او حکمـي اشخاصو او رسمي ادارو لوګو او نشان په هغه کې کېندل کیږي. دری: [مهر]

## مهلت
هغې مودې ته ویل کېږي چې په مختلفو مـواردو کـې د حـق د لاس تـه راوړلـو او یـا د عقـد د تنفیـذ او یـا د خسارې د جبران د ورکړې لپاره د مخاصـمې د یـو اړخ او یا د محکمې له خوا تجویز کیږي. دری: [مهلت]

## مهمات
هغه ترکیبی توکي چې د فونیه (فیوز) ترتیبات ولري او د چاودنې سبب ګرځي. دری: [ مهمات]

## میتیه کبابت
د مـرګ د یـوې علامـې څخـه عبـارت دی او د مـړي د جسد په هغه قسمت کې ظاهرېږي چې لـه ځمکـې سـره تماس لري. دری: [کبابت میته]

## میعادي امانت
هغه بانکي امانت دی چې یوازې تر یوې مخکینۍ خبرتیـا وروسته بېرته ګرځیدی شي. دری: [امانت میعادی]

## میعادي پورونه
هغه پور چې د قانون له حکمونو سره سم د یـوې ټـاکلې مودې په نظر نیولو کې د غوښتنې په موجب د تـأدیې وړ نه وي. دری: [قرضه های میعادی]

## میوه لرونکی ځنګل
هغـه ځنګـل دی چـې عمـده تولیـد یـې میـوه وي. دری:[جنگل مثمر]